

# دا غونه

## مي خالونه کړل

خپلو سلګو نه مي سازونه جوړ کړل
لۀ پرهرونو مي ګلونه جوړ کړل
چي دحالاتو پۀ مېچنه دل شوم
ما د داغونو نه خالونه جوړ کړل

سراج الدين سراج

دا غونه مي خالونه کړل

سراج الدين سراج



يا الله

## دَزړۀ خبره

سراج الدين سراج لکه دَ سوات د هوا نرم خوږ او پوست دے.فکرئي لکه دَ سوات دَباغونو رنګين او ګل ورين دے او ژبه ئي لکه د سوات دَ سيند رڼه او روانه ده.ماد دوي وړومبے کتاب "پهي پۀ پرهر"لوستے وۀ او دا دے دويمه شعري مجموعه "داغونه مي خالونه کړل "ئي لولم. د دې دواړو کتابونو دَلوستو نه پس پۀ خپله دې دعوىٰ کښې ځان رښتونے ګڼم چې دَ سراج صاحب شاعرۍ دَ انساني خوا خوږي، پښتون دوستي،اسلام دوستي،دَښو او درنو اخلاقو دانګازودَ شعور او ادراک يوه ښائسته کوونکې زېرمه ده چې مو نږ تـه ځـبلمه ده. ژبه ئي دَ روزمرې او محاورې په خوږوخوږه ده.صنائع بدائع،تشبيهات استعارات،او نورفني خصوصيات او شعري لوازمات ئي دَ ستايلو وړدي .دَدې ټولو خوبيو سره ئي دَ تخيل لوړتيا او دَتغزل ژورتيا.دَنظمونو سپځلتيا ده. غزل ښه ئي پوخ شوخ او خوږ دے.خو قطعات ئي يقيناً دکلام پۀ سپينه څهره لکه دَشنو خالونو ښکلا لري.دَپښتو خدمت لپاره ورته له خدايه ډيروخت،ښه صحت او ډير ژوند غواړم .

پروفيسر ډاکټر محمّد زبير حسرت
پښتو نخوا مطالعاتي مرکز باچاخان پوهنتون چارسده
يکم نومبر ۲۰۱٦

اعراف پرنټرز
091-2580006
0312-5945568
محله جنګي پېښور
aarafprinters@gmail.com

# داغونه مې خالونه کړل

خپلو سلګو نه مې سازونه جوړ کړل
لـهٔ پرهرونـو مـې ګلونـه جـوړ کـړل

چـې د حـالاتو پـهٔ مېچنـه دل شـوم
مـا د داغونـو نـه خالونـه جـوړ کـړل

سراج الدين سراج

نورپبلي کېشنز سوات
ملک سپر مارکيټ نشاط چوک مينګوره سوات
Ph: 0946-710610 Mob: 03409888972/03009072580

کتـــاب زمـــا اختيـــارئې زمـــا

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | داغونه مې خالونه کړل |
| ليکوال | سراج الدين سراج |
| کمپوزنګ | سراج الدين سراج |
| ټائيټل | عرفان سراج |
| وړومبے اشاعت | يو زر (۱۰۰۰) |
| بيعه | دوه سوه روپۍ (۲۰۰) |
| د چهاپ کال | نومبر دوه زره شپاړس ۲۰۱۶ |
| چاپ ځاے | **اعراف پرنټرز** نديم ټريډ سنټر محله جنګي پېښور ۰۳۲۱۵۹۴۵۵۶۸ |

د ليکوال پته او د اړيکې شمېره

کلے ماستير آباد (ا ساله) تحصيل خوازه خېله سوات خيبر پښتونخواه

ګرزينده شمېره : 03449777120

د موندلو درک:

د پېښـــور اوســـوات د کتـــابونو هـــر لـــوئے دکـــان

# ترون

د خپل خوږ ، حساس او سنجيده ځوي **فرحان سراج** په نوم چې زۀ پرې ډېر وياړ يم او دا هيله ترې لرم چې زما نه پس به خپلې مور ،خويندو وروڼو ،خپلو خپلوانو او يارانو دوستانو ته زما په ځائې لکه زما ولاړ وي او هغوي له به زما د غېر موجودگۍ احساس چرته هم نۀ ورکوي۔

سراج الدين سراج
ماسټر آباد (ا ساله)
خوازه خېله سوات
گرزينده شمېره :- 03449777120
نېټه يکم اکتوبر 2016 ء

# ډالۍ

هغه ټولو پښتنو ته ډالۍ کۀ د نړۍ پۀ هره برخه کښې ژوند کوي خو چې پښتو وائي، پښتو ليکي ،پښتو لولي او پۀ پټ پښتو پوهيږي۔

پۀ ډېره پښتنه مينه

سراج الدين سراج
صدر۔ سوات ادبي غورځنګ
ګرزينده شمېره : 03449777120

نېټه: يکم اکتوبر 2016 ء

# دا کتاب او دا شاعر

پښتو ژبه چې د يو لوې قام او پتمن قام ژبه ده- ډېره زړه هم ده او ډېره شتمنه هم ده-خو بيا ئې هم لاهغه لوړ تعليمي ، دفتري او مکتبي مقام نۀ دے ترلاسه کړے ، د کومې چې دا لويه او کوټلې ژبه پامته داره ده- کومه چې د حکومتي چارواکو د ظلم ، بې پروايۍ او ناسودۍ د لاسه شاته پاتې ده- خو ځه ، يو ځل کۀ پۀ زور وي او کۀ پۀ رضا وي ، دغه موخه به هم تر لاسه کړے شي او دا به ځکه تر لاسه کېږي چې ددې نرې ژبې شاعران ، اديبان او پوهان لاس تر زنې نۀ دي ناست،خپل حدف ته د رسېدو د پاره هر وخت ادبي هلې ځلې کوي او ددې ژبې د ودې ، خصمانې ، ساتنې او روزنې د پاره پۀ خپل نيشت نيمګړي مالي حالت کښې بيا هم ددې ژبې پۀ تول کښې د برې او شتون ګيتۍ اچوي او ددې ژبې ادبي جولۍ لا ښۀ برجته کوي-

ددې ژبې پۀ دغه وطنپاله زامنو کښې يو حسّاس ،پوهه او د ژور فکر څښتن سراج الدين سراج هم دے ، څوک چې دا مال د شپېتوؤ نه اغوښتے، د آرام او د دمې وخت ئې دے- خو قام پرسته کله پۀ څۀ اړ دے، چې سراج اړ شي- خو دے زمونږ پۀ دې چاپېرچل کښې بلها بلها ګړندے اوخوت- ځکه چې څۀ ورځې مخکښې ئې يو ډېر ښۀ او ګټور کتاب "پهې پۀ پرهر" لوستونکو ته مخې ته کړے ؤ- دغه کتاب ډېرو ملګرو خوښ کړے،ستائيلے او پۀ بيه ئې اغيستے ؤ، لا د نوم نښانې دغه

دوړې لانۀ دي پرېوتي چې دغه د پښتو دې مجنون دا بل کتاب "داغونه مې خالونه کړل" هم رامينځ ته کړو-

د کتاب ژبه ئې ساده، کليواله،خوږه پسته ده او خپله د مطلب ډکه خبره پۀ ډېر ساده ساده کليوال انداز کښې کوي او هر زور ظلم،وحشت،بربريت او ناکړدو ته ګوته نيسي- قام ته يواځې غل نۀ پۀ ګوته کوي بلکه د ځان ساتلو،د غل نه د لرې کېدلو او د خپل قام،خاورې سره ملګرتيا،چل او فائده هم ورته ښائي ، چې د سبا د روڼ سحر يو زېرے دے او يوه تلوسه ده- څۀ ساده خبرې پۀ څۀ انداز کوي-

نۀ پښتو ليکلے شو ، نۀ پښتو لوستلے شو
وئيلے به مو هم نۀ شوه کۀ ژبه مو د مور نۀ وے
دا به پۀ شخصي توګه مونږ هم عملي کړے وے
دومره ګرانه نۀ وه کۀ خپل زړونه مو ترې تور نۀ وے

د سوات پۀ پښتنه خاوره او خپل وطن بې شکه چې ډېر مئين دے۔ ځائې پر ځائې ئې ددې رقم رقم ذکر کړے دے- لکه

دے متل " هر چا ته خپل وطن کشمير دے"
استوګن کۀ د يورپ کۀ د دکن دے
زۀ به څنګه د مستې خبرې نۀ کړم
چې د سوات د سين پۀ غاړه مې مسکن دے

ځائې په ځائې خپله خوږه ژبه په کوټلي متلونو لا ښـهٔ خوږوي- لکه

متل دے " چې څهٔ کرې هغه ربېې به سبا له "
دا مـونږ چـې څـهٔ کرلـي دي هغـه راتـه رارسـي

علم ، پوهه او هنر چې پهٔ ريشتيا د سړي نه سړے جوړوي او د قام نه قام جوړوي نو هله چې ......

کـهٔ د علـم ، هنـر پـوهې خاونـدان شـوَل
پښتـانهٔ بـه د عـروج مقـام تـه رسـي

متل دے چې کهٔ اوښ پهٔ پېسه شي ، خو چې پېسه نهٔ وي نو بيا ؟
پېسې له ،شتمنۍ له ، ورورۍ او قام ولۍ له نظام پکار دے- نهٔ چې دا نظام چې دې وطن کښې د اويا کالو را هسې ئې راج دے- غريب لا ښهٔ دل کېږي او ورکېږي

چې دا غاصب نظام وي د بدلون طمه عبث ده
چې څنګه نولس ده ، نولس به وي خو شل به نهٔ شي

خپله ژبه ئې هم لکه د ايمان غوندې خوښه ده- يواځې د وئيلو پښتو نهٔ غواړي ، د کولو پښتو ته هم سترګې پهٔ لار دے-

پښتنو ! پښتو زمونږ پېژندګلو ده
پښتو وايئ ، پښتو ليکئ ، پښتو لولئ
دا يوازې ژبه نۀ ده دستور هم دے
هر عمل مو د پښتو پۀ کاڼي تلئ

د سوات پۀ وطن چې څۀ تېر شوي دي د هغې ساندې هم وائي- د ورانې وېجاړې سوَبونه ئې هم ښائي

پښتون اوس هم پوهه نۀ دے
لاس تړلے بندیوان دے

حسن ، مينه ، وفا ، خوښتيا د هر بنيادم پېدائشي کمزوري ده ، هم دغه وجه ده چې هر څوک پۀ دې پرېمانه او غورېدلي باغ ورګه بدل غواړي- سراج هم د چا نۀ پۀ دې لړ کښې کم نۀ دے ، ځکه شېخ ته بيا بيا وائی چې

شېخ وائي ښائيست څۀ کے ښکلا څۀ کے
زۀ وايم چې دا نۀ کے نو بيا څۀ کے

لنډه دا چې داريښتونے پښتون پوهه او حسّاس شاعر، په ژبه او خيالاتو لاس بر، د دنيا په چل او هنر پوهه دا ترجمان چې د اولس د خيالاتو او پوهې په مناسبت سره خبره کوي- د بې ځايه نۀ پردي او پور کړي خيالات اخلي او نۀ خپله سوچه او پاکه ژبه د نورو ژبو په ټکو کښې ورکوي- څومره ښۀ وائي

پۀ هغه خاوره مرمه چې د کومې خاورې خورمه
خپــل سـر پــرې ځاروۀمــه لېــونے يمــه ملګــرو

پۀ درناوي او د برياليتوب پۀ طمه

محمد پروېش شاهين

منګلور سوات

نېټه 8 / جون 2016ء

www.pukhto.net

## سراج الدین سراج ــــ یو با احساسه شاعر

هره ښه شاعري د ځان سره د روایت داریت او د خپلې خاورې خوشبوئي ، سیاق و سباق او رنګونه راوړي-کامیاب شاعر دغه هر څۀ پۀ داسې انداز بیانوي ، چې زړۀ ته تر تهول نیزدې راګ ترنګوي او پۀ شېرینه لهجه اعلیٰ تخلیقي جواهر وړاندې کوي- نو ځکه خو د شاعرۍ د لوستو پۀ وخت کښې لۀ دې سره سره چې شاعر د کومې ډلې سره تړلی دی ، پۀ کومو سیاسي او اجتماعي حالاتو کښې را لوی شوی دی او د هغۀ نظریه څۀ ده ، دې ته هم توجه پکار ده ، چې شاعر څومره د ژبې تخلیقي استعمال کړی دی ، څومره ئې د لفظ او معنی مختلف اړخونه موندلي دی او څومره ئې شعري عناصر (تشبیهه ، استعاره ، علامت او نور) کارولي دي .کۀ یو خواه دا کتل پکار دي ، چې شاعر د څومره قامت او علمي بساط څښتن دی ، نو دا هم لیدۀ پکار دي چې هغۀ خپل احساسات پۀ څومره کامیابۍ سره د لفظونو پۀ توسط وړاندې کړي دي .یو شاعر چې د نوي تشبیه ، استعارې او علامت د تخلیق او رنګارنګ استعمال قدرت ولري ، نو خامخا د شعري ژبې پۀ لمنه کې فراختیا راوستلی شي .داسې شاعر د لفظ پۀ نفسیاتو ،تاریخ ، بیلا بیلو اړخونو او شته ظرفیت هم آګاه وي .نو ځکه هغه د هر لفظ

سره دومره احتیاط کوي چې د معمولي شاعر خاصه نهٔ وي ـ هغه دا ځکه کوي ، چې تر څو لفظ پهٔ داسې شکل استعمال نهٔ شي ، چې د خوارېدو باعث شي او شاعري بې ډوله ښکاره شي هم دا سبب دی چې د عالمانو پهٔ نزد د یو شاعر اهمیت د مصور ،کوزه ګر ، موسیقار او د

بل هنر مند نه زیات وي ـ ځکه چې لفظونه ژوندي دي او د ځان سره پوره د معنی او تشریح یوه دنیا لري ـ د لفظ سره سروکار او د لفظ کاروبار کهٔ یوې خواته د عظمت سبب ګرځي ، نو بلې خواته د هزیمت سبب هم ـ پهٔ دویمه درجه کې مصّور دی ، ځکه چې د لفظ پهٔ ځائې ئې تر څهٔ حده لهٔ ژوندیو رنګونو سره سروکار دي او بیا موسیقار۔

ښاغلی سراج الدین سراج صېب هغه شاعر دی ، چې د اظهار ژبه ئې خوږه او د ادبي اخلاص نه ډکه ده ځکه خو زړهٔ ته اپیل کوي ـ د هغهٔ موضوعات پهٔ محلي ، ملي او بین الملي مسائلو بناء دي او ددې دور عمراني او نفسیاتي هنداره ئې بللی شو ـ ددهٔ شاعري زمونږ د سیمې شعري اثاثه هم ده او سیاسي ، تاریخي او ادبي حواله هم ـ کهٔ ماته د هغهٔ دا دوه درې غزلونه هم رارسېدلي وی ، نو ما به ګڼله چې سراج صېب یو بهترین شاعر دی۔

کهٔ هر څو د غلامانو غلامان یو
خو غاوره یو چې ستوري د اسمان یو
عالمونه د عروج پهٔ بام ولاړ دي
مونږ د حسد ، بغض ، کرکې مریضان یو

نۀ قانون شته نۀ نظام نۀ انتظام شته
پۀ يو داسې چاپېرچل کښې اوسېږو يو
نور څۀ نۀ دي د عمل ردِ عمل دے
مونږ د خپلو عملونو مجرمان يو
ټول به دغسې د ځان پۀ وير اخته يو
چې د بل پۀ غم غمجن نۀ يو د ځان يو
چې کوم چاته د منزل څۀ پته نشته
پټې سترګې پۀ هغوې پسې روان يو
نوے کُول به مو معاف نۀ کړي سراجه
د هغوې د ارمانونو قاتلان يو

يا د احسّاس ، شعور او فن نمونه دا غزل

مونږ د هر ارمان پۀ مرۍ غلي يو
بيا هم ځان ته وايو چې بناغلي يو
خلکو د ژوندون نه مزې واغيستې
مونږ د هرې چارې نه وتلي يو
کار کسب مو نشته لاس نيوې کوؤ
ژوند پۀ قرض پور کړو نازولي يو

نۀ مو څۀ مرام شته نۀ مقصد شته دے
پوهه نۀ يو څۀ شي له راغلي يو
دا چې غلامان د غلامانو يو
خپل عمل هر ځاے کښې شرمولي يو
ژوند د انګرېزانو پۀ امداد کوؤ
خېر ته رهبرانو کښېنولي يو
چل سراج له اوس د خلاصي نۀ ورځي
حسد ، کرکې توت ته خېژولي يو

ښاغلي سراج صېب ته لاد زبان و بيان وسعې دشتې د سر کولو لۀ پاره پۀ مخکې پرتې دي او زما يقين دى چې نوموړى ددې سفر د طى کولو کلکه اراده او تمنا لري

صابر شنوارى
جلال آباد
4 / جولاى 2016 ء

# باسمهٖ تعالیٰ

ملګرو داد ے ، د سراج الدين خان دوئيمه شعري مجموعه "داغونه مې خالونه کړل" ستاسو ښو لاسونو ته راورسېده ،پۀ داسې حال کښې چې ، د وړومبۍ مجموعې د چاپ لاکال نۀ دے پوره شوے ، خو ښاغلي خپل کار پوره کړو او دغه دے "داغونه ئې خالونه کړل" ۔

زما پۀ فکر سراج خان بلا ناغه هره ورځ څۀ نه څۀ ليک کوي، ځکه چې پۀ څو مياشتو کښې ئې بلها غزلونه ، نظمونه ، هائيکو ، قطعې او دغسې نور ښۀ او معياري کلامونه وُوئيل، وليکل ، او د شعروادب لمن ئې درَنه کړه او دغسې مونږ پۀ ډاډه زړۀ وئيلے شو ، چې سراج خان ښۀ ليدونکے ، ليکونکے او همه وقت ويونکے شاعر دے ۔ ورسره خوبي ئې داده ، چې پۀ هره موضوع وائي او ليکي ۔مينه محبت ، ښائيست اؤ يارانه غواړي هم او ستائي هم ۔ورسره د مذهبي دو رنګۍ ، بې ځايه مداخلت او يرولو ترهولو غندنه هم کوي ، او د يو ښۀ نقاد پۀ طور معاشرتي مسائيلو ، منافقت ، سياست اؤ سياست دان ته ګوته هم نيسي۔

دغسې يو خوا پۀ دې پاځۀ عمر کښې د هلکوالي شوخ خبرې اؤ مستي کوي او لۀ بله خوا د خپل عمر سره سم سنجيده کلامونه او پېغامونه هم رسوي ۔چې د يو زړۀ ور ، غېر جانبدار اؤ ښۀ نظر لرونکي

شاعر خاصه ده اؤ هیله لرم ، چې د پښتو ادب مینه وال به ئې دغه اسلوب خوښ کړي .

ورسره زمونږ دعاګانې دي ، چې الله پاک دې ورله د پلارنۍ او مورنۍ ژبې اؤ قوم د خذمت لپاره اُوږد عمر اؤ مزید موقعه په لاس ورکړي۔

آمین

وکیل حکیم زے
بره دروش خېله متهٔ سوات
20 / جولائي 2016 ء

PUKHTO.NET

# د الهام پرانستې دروازې

ښاغلی سراج صېب د نوم او تخلص تر حده سراج نهٔ دے ، بلکه د تخليق پهٔ هر پړاؤ ئې د ژوند ماښامونه مشالونه کړي دي ، د سراج معنى ئې پهٔ وجود کښې لکه د نمر د پلوشو اغېګلے شوې ده ـ ښاغلے پېدائشي شاعر دے ـ پهٔ ژوند ئې سحر ماښام د الهام شيبې شيبې بارانونه راوريږي او د ژوند خواږهٔ او حساس نګهتونه ترېنه پهٔ پوره تسلسل راپورته کېږي ـ

ښاغلے غزل هم ښهٔ ليکي او نور شعري اصنافو سره ئې هم تخليقي تړون کهٔ ښکاره او جوت دے ولې د تخليق فراواني ئې پهٔ قطعاتو کښې ځان راښکاره کوي ـ د چاپېرچل اخلاقي، سياسي ، اقتصادي ، تاريخي او روماني ټول موضوعات د محترم پهٔ شاعرئ (خصوصاً قطعاتو) کښې ډېر پهٔ کوټلي انداز کښې مخې ته راځي او خپل تأثر او تاثير پهٔ زړونو او ذهنونو نقش کوي ـ

ښاغلے د جدت خوښې پهٔ شوق کښې خپل اسلوب نه لفظي معمه نهٔ جوړوي ، بلکه پهٔ فطري سادګئ د زړهٔ خبرې زړونو ته رسوي ـ ښاغلے سراج صېب د خپلو رواياتو سره ګام پهٔ ګام مزل کوي او نوي منزلونه را لاندې کوي ، خو د کلي نه نهٔ اوځي او د نرخه هم ـ

د ښاغلي سراج هنري انفرادیت او فنکارانه کمال دا دے ، چې هنر ئې بې ریا دے ۔ دروغ ئې خواږهٔ کړي نهٔ دي او ریښتیا ئې تراخهٔ کړي نهٔ دي او دا وصف د لویو هنرمندانو نصیب کېږي ۔

د ښاغلي قلم د شعر ګڼ امکانات ځان ته پهٔ قطار اودرولي دي ۔ د الهام دروازې ئې پرانستي ساتلي دي ۔ الله پاک دې ښاغلے شاعر د قام د بېدارۍ غږ هم اوګرځوي او د ذوق سرچینه هم ۔

ډاکټر اظهار الله اظهار
چئیرمین اردو ادبي څانګه
اسلامیه کالج ، پېښور یونیورسټي
نېټه :۔ 4 /اګست 2016 ء

PUKHTO.NET

# داغونه مې خالونه کړل ــــــ يو تأثر

زمونږ شاعر ښاغلے سراج الدين سراج د داسې سيمې سره اړيکې لري ،چې د تعارف احتياج نۀ لري .د دغه سيمې تاريخ ، ښکلا ، ثقافت ، تهذيب ، تمدن ، پښتو ، پښتونولي ـــــ او دا ټول چې راغونډ شي نو د رنګانو دغه زمکه ترې جوړه شي ـــــ د نمر زمکه سوـــات ــــــ سوات ـــــ او ، سوات چې زمونږ د زرګونو کالو د تهذيبونو امين دے ـــــ او ، سوات چې زمونږ د ثقافت د تندي لازواله خَلا ده ـــــ او، سوات چې زمونږ د تاريخ وياړ دے ـــــ د سکندر قدمونه کۀ ورته رارسېدلي دي ، خو ټيکاؤ شوي پرې نۀ دي .سوات چې مغل پرې بلوسه اوکړه ، نو د کړېې او ملندرۍ کانړي بوټي ئې پۀ وينو سرۀ شو او د اکبر اعظم پۀ دربار کښې ئې د غم و الم يو فضا جوړه کړه .کۀ پېرنګے " د بې ننګۍ زور" چترال ته ورسؤ ، نو سوات ته پۀ طبعي طور ونۀ رسېدو .او دغه سوات چې نن هم د تاريخ پۀ سنګين ګوټ پېر ولاړ دے ـــــ اوس چې د داسې سيمې يو تعليم يافته شاعر شاعري کوي او د سوات د سيند پۀ رنړو اوبو کښې د ژوند د محبوبا سينګار کوي ـــــ نو دغه سينګار خو به د فن بلا نزاکتونه ، ښائيستونه او رنګونه لري.

www.pukhto.net

ګورو چې د دغه سينګار فنکار سراج الدين سراج خپل داغونه ښنګه خالونه کړي دي ــ ددې نه وړاندې شعري مجموعه ئې" پهې پۀ پرهر " چې تر چاپه رسېدلې ده نو ښکاري چې تسلي ئې نۀ ده شوې. پۀ

دې چې زمونږ د شاعر پرهرونه پۀ پهو نۀ جوړيږي او اوس دې نتيجې ته رسېدلے دے چې کۀ د پهو سره ئې څۀ علاج شوے وي ، نو پاتې داغونه ئې خالونه کول پکار دي .او دا د ښاغلي د حسّاسيت يو مقام دے ، چې د داغونو پۀ رڼاګانو کښې د خالونو پلوشې پېدا کوي.

د ښاغلي شاعري د خپلې سيمې د ښکلاګانو ، ستونزو او د عمر د تجربې پۀ اساس د مقصديت ټول خواږۀ لري . غزل ، نظم او قطعه چې د دوې د منظوم ليک مېدانونه دي ، ښۀ پۀ خلاص مټ پکښې د خپل ما فى الضمير د اظهار پۀ هنر پوهېږي . هر کله چې د غزل او نظم لمن فراخه وي او د اظهار لارې پکښې خورې وي . ولې د ښاغلي قطعه نګاري هم د دوې پۀ هنر د پوره ګرفت ثرګندونه کوي او د لوړ مقصد انعکاس پکښې کېږي.

بې محنته مرتبه موندلے نۀ شې
زيار چې او نۀ کړې کمال نۀ پېدا کېږي

چې مخلوق درنه رضا نۀ وي سراجه
د خالق د رضا سوال نۀ پېدا کېږي

www.pukhto.net

دومره به پۀ سترګو کښې ازغے نۀ وؤ
خبر دے کۀ وے بد خو چې بدنام نۀ وے

هیڅ خبره نۀ وه کۀ بې وسه وے
خدایه چې بې حِسه مې دا قام نۀ وے

داسې د ښاغلي نوره شاعري (غزل او نظم) کښې هم د دوې د قامي او ملي فکر سره روماني خيالات هم موجود دي او د هغې وجه داده ، چې د رنګونو دغه سيمه چې د رومانويت ټول اسباب پکښې موجود دي ، نو د دوې روماني خيالونو ته ئي هم ځلا ورکړې ده او داسې چې دا روماني سيمه د بلا ستونزو سره مخ ده ، نو ښاغلے سراج صيب هم د يو حساس ليکوال پۀ حېث خپل محسوسات قلمبند کوي. کوم چې يو پله ددې وخت ترجماني ده او بل پله تاريخ ته سپارل دي. د ګران مشر سراج الدين سراج پۀ دې شعري مجموعه دا خپل منتشر خيالونه د دوې پۀ دې ځو خونده ورو او با مقصده شعرونو راغونډوم چې

دا پښتو زمونږه مور ده
مور درَنه کړئ چې درانۀ شئ
د غفلت لۀ خوبه پاځئ
خبر دے اوس خو پښتانۀ شئ

هر کار څوک فائدې د پاره نۀ کوي
ځنې ځنې ځاے کښې تاوان هم ښۀ وي
مۀ اوره د زړۀ هره خبره دې
کله کله جبر په ځان هم ښۀ وي

شرافت چې چا کښې زيات شي د يو حده
ورته جوړ لۀ ګيدړانو ازمري شي
بد معاشي ته ښۀ عمل وئيلے نۀ شم
کله کله ضرورت شي مجبوري شي

پۀ درناوي

**ډاکټر شېر زمان سيماب**
پښتو اکيډمي ، پېښور
05 / اګست 2016ء

www.pukhto.net

# داغونه مې خالونه کړل

ښکلي ښکلي اديبانو ، شاعرانو ، پوهانو د ښاغلي سراج الدين سراج پهٔ دې کتاب "داغونه مې خالونه کړل" پهٔ زړهٔ پورې ليکونه کړي دي. پهٔ دې دومره ښکلي ليکونو دپاسه به زهٔ څهٔ اوليکم ؟ څهٔ چې وؤ هغه خو پرې زما ملګرو د وړاندې نه ليکلي دي. خو د سراج صېب کلکه وېنا ده ، چې تهٔ به پرې څهٔ ليکې.

يه سراج صېب ! "پهې پهٔ پرهر" تهٔ لګوې او د داغونو نه خالونه "داغونه مې خالونه کړل" تهٔ جوړوې. دا ستا فن دے ، هنر دے. تهٔ ئې کولے شې ، که نهٔ چا داغونه خالونه کړي دي او څوک داسې کوؤلے شي ، بغېر لتا نه ؟

زهٔ پهٔ دې دومره ښکلي کتاب چې د خوند رنګ او پند نه ډک او د ژوند پهٔ مختلف اړخونو پُور مامور دے ، تاسو له د زړهٔ لهٔ کومي اومبارکي درکوم او اُميد لرم ، چې لکه ستاسو اولنے کتاب "پهې پهٔ پرهر" لوستونکو خوښ کړے دے. داسې به دا کتاب "داغونه مې خالونه کړل" هم خوښ کړے شي.　　ستاسو

**فضل محمود روښان**

باني سوات ادبي ځانګه
منيګوره سوات
11 / اګست 2016 ء

# د ښـاغلي سـراج شـاعري

سراج زما اشنا دے. ډېر فعال ، سپېل خويه او يو مخيزه انسان او د يارانو يار دے. زما پۀ يارانو عزيز او انور خو ورک مئين دے. هغه کۀ شاعرنۀ هم وے نو پۀ ما به ډېر ګران وو. ځکه چې هغه د پښتنې ټولنې يو پوهه ، روښان فکره ، پت من او مثبت کردار دے. شاعرى ته ئې د عمر پۀ داسې برخه کښې لاس واچوۀ چې اکثر شاعران ورته پکښې شا کړي ، او يا بيا د فکروفن پۀ حواله پۀ زَړه شخوند وهي.

ما د سراج صېب ددې نه وړاندې چاپ شعري مجموعه " پهې پۀ پرهر " لوستې ده د شاعرى دا مجموعه " داغونه مې خالونه کړل " مې هم ولوسته او پۀ دې نتيجه اورسېدم ، چې کۀ چرې د هغۀ پۀ سينه کښې دې پتېې شاعرى غړ نۀ وے وهلے او د خُلې کېږې ئې ورله نۀ وے پرانستے نو دا به د پښتو ژبې سره ډېر زياتے وو. ځکه چې د هغۀ شاعري هم پۀ فکري توګه توانا ده او هم ئې د رومان باغ سمسور دے ، او دا ځکه چې هغه هم ليکلے لوستلے سړے دے او هم ئې د ادبي کاروان سره سفر کړے دے ، هم ئې پۀ سر د دور د ساهو اديبانو او شاعرانو لاسونه دي او هم ئې فطرت شاعرانه دے.

د هغۀ نظم او غزل هم مزيدار او پۀ تول پوره وي خو خپـل ځاني ئې

ماته قطعات زيات خوند راکوي۔ هغه کۀ پۀ غزل کښې پهې پۀ پرهرونو لګوي خو پخپلو قطعاتو کښې اکثر مالګې پۀ پرهرونو لګوي او اُودۀ خلق د ويښې د خوبونو نه راپاڅوي۔ لکه چې وائی۔

اے پښتونه اے جاهله مسلمانه
تۀ به څو پورې د غېرو ګوډاګے ئې
خپل پردي کښې امتياز کولے نۀ شې
بس خو هسې د ړاندۀ د لاس غرګے ئې

د ځان پۀ حقله ئې دا شعرونه هم د لوستو دي۔

ښکاری چې ځوانی لاړه بوډا شومه
نرم خوراک سخت راباندې اولګی
ځان باندې چې ډېره خواری اوکړمه
ښکلے شم خو وخت راباندې اولګی

سراج صېب د دور ساهو فنکار دے۔ ساهو فنکار اوسي ، پۀ لمحۀ موجود کښې ، خو نظر هم پۀ پرون ، هم پۀ نن او هم پۀ سبا ساتي ۔ نن چې ورته څۀ خراب ښکاري هغه پۀ شاعرانه انداز کښې کړي ، او د سبا پۀ حقله لارښودنه کوي۔

د سراج صېب شاعري کۀ يو خواه د ژبې ، روزمرې او محاورې بلها خواږۀ لړي نو بل خواه ئې د يو پوهه او زيرک انسان پـۀ حېث د زمـانې پـۀ چال ، د انسان پـۀ حال او د سرمائې پـۀ جال هم نظر دے ، چې اولسونه پکښې لکه د کبانو ګېر دي ، او د نړۍ نه ئې منډهۍ سازه کړې ده ـ ځکه خو سراج صېب ډېر پۀ افسوس سره د حالاتو تجزيه څۀ پۀ دې ډول کوي ـ

انســـانان واړه د يـــو کالــۀ کوړمـــه ده<br>
غــټ او کــچ زمـونږ د ذهـن پېـداوار دے<br>
دا چې څـومره بې وسي ، پسـماندګي ده<br>
بل څوک نۀ دي ، دا نظام ئي ذمـه وار دے

پۀ دغه اشعارو کښې سراج صېب يو خواه د جهالت ، غربت او جنګ غونده د ټولو بدو سرچينۀ پۀ ګوته کړې ده ، نو بـل خـواه ئـې د قـرآن پـاک تفسير او مفهوم پۀ جانانه ډول بيان کړے دے ـ الله تعالیٰ فرمائی ،
" ما انسانان د يو پلار او يوې مور نه زېږولي دي ، او پۀ قبيلو کښې مې ځکـه وېشلي دي چې دوې يـو بـل اوپېژني ـ او پـۀ دوې کښـې نيـزدې ماته هغه کس دے کوم چې ښۀ او نېک سړے دے"

پاتې شوه د سراج روماني شاعري نو دا به چرته بيا شي ـ هسې هم د حسن او ښکلا او رومانس د تول تله هډو شته نۀ ـ
هغه د يو پېرنګي خبره
It can be felt , It can not be described.

د سراج د ښۀ ژوند او تاند قلم پۀ هيله ـ

نورالامين يوسفزے
شاه منصور ( صوابي )
نېټه:- 7 / ستمبر 2016 ء

# سراج الدين خان او د هغهٔ شعر

هسې خو زهٔ سراج الدين سراج صېب ډېر د هلکوالي د عمر نه پېژنم خو ناسته پاسته او مراسم ورسره تقريباً د څلورو کالو نه لرم او ددهٔ پهٔ صحبت کښې چې کوم سکون او راحت محسوسؤم د هغې اظهار زهٔ پهٔ لفظونو کښې نهٔ شم کولے ـ دا سړے رابانديې هم ډېر خوږ لګي او ددهٔ شاعري مې هم ډېره خوښه ده ، بلکه زهٔ به دا اووايم چې دا د سراج صېب سره د صحبت او ناستې ولاړې نتيجه ده چې زهٔ هم پهٔ تېر عمر دا خواهش لرم چې زهٔ هم شاعر شوے او د سراج صېب سره مې د شعروشاعرۍ رشته هم جوړه شوې ، خو دا زما پهٔ ګومان تش خواهش او ناشونے کار دے ، ځکه چې ښه شاعري د هر چا د وس کار نهٔ دے، دغې لـه د سراج پشان زيرک بنده پکار دے ـ

زهٔ نهٔ خو شاعر يم او نهٔ اديب ، خو دومره پوهېږم چې سراج چې پهٔ کوم انداز کښې شاعري کوي او پهٔ دومره لږه موده کښې ئې ځان لـه د خلکو پهٔ زړونو کښې ځائې جوړ کړو او زما غونديې د ادب نه نا اشنا سړے ئې د شعر اورېدو ته را اوپارولو نو ددې وجه هم دا ده چې د سراج صېب پهٔ شاعرۍ کښې اخلاص دے ـ هغه د خپل اولس سره د هغوې پهٔ ژبه کښې خبرې کوي او دا زهٔ بلا مبالغه وئيلے شم چې سراج د وينښ ضمير او روښانه فکر څښتن دے ـ د خپلې ټولنې او چاپېريال د ستونزو نه خبر دے ، او چې څهٔ محسوسوی نو ډېر پهٔ بې ساختګۍ سره ئې د قلم ژبې ته سپاري ـ

ما د سراج صېب اولنۍ کتاب " پهې پۀ پرهر" ټکے پۀ ټکے لوستے دے او د نوي کتاب " داغونه مې خالونه کړل " مسوده مې ترې هم د چاپ نه مخکښې تر لاسه کړې ده او ډېر پۀ مینه ئې بار بار لولم او خوندونه ترې اخلم ۔

سراج صېب تشه قافیه بندي نۀ ده کړې بلکه پۀ هر شعر کښې یو واضحه پېغام لري۔

سراج صېب ډېر ساده ، بې تکلفه ، ملنسار او خدمتګار سړے دے پۀ ګفتار او کردار کښې هیڅ تضاد نۀ لری۔

د پاک رب نه دعا غواړم چې الله دې ورله نوره موقعه پۀ لاس ورکړي چې د پښتو ادب جولۍ ته نور ګلونه هم ډالۍ کړي

پۀ ډېره مینه

**ډاکټر محمد درویش خان**

نائب صدر اسلامک میډیکل ایسوسي ایشن

کلے مانپیتۍ ضلع سوات

نېټه :- 8 / ستمبر 2016 ء

## يو ځل بيا

ګرانو لوستونکو ! کله چې هم زما او د سراج صيب سره ليدل کتل شوي دي نو ارومرو د خوارک سخاک نه علاوه د پښتو ادب په بابله خبرې اترې هم شوي دي او مشاعره خو به اکثر وه ، چې محفل به پرې ښائيسته ؤ .

سراج صيب يار باشن سړے دے . ځکه خو ئې په همه نړۍ کښې بلا ياران دوستان دي . د فطرت کمال ته ئې ګورۍ چې د سراج صيب عمر دوه شپېتۀ کاله دے ، د سر وېښتۀ ئې سپين شوي دي خو زړۀ ئې لا شپاړس کلن دے . شاعري ئې فطرتي ده . داسې به اووايم چې د سوات فطرتي ښکلاګانې ، سندريزې هواګانې ، د ښنترو ، چنارونو شوربدل ، د چينو ، خوړونو او ابشارونو شرار او قسماقسم چنچهو ، مارغانو کارغانو ښکلي آوازونه او د ماذيګر رنګينۍ ، چې دا ټول فطرتي رنګونه راجمع شي ، نو د سراج صيب په زړۀ او مازغو راخوارۀ شي او په ځان ، جهان او جانان باندې ترېنه څۀ نه څۀ ليکل اوکړي

ددې نه وړاندې ئې يو شعري ټولګے " پهې په پرهر " چاپ دے ،
چې د ذوق سره تعلق لرونکو د مارکيټ نه اغيستے دے ، او اوس ئې دا دويم شعري ټولګے " داغونه مې خالونه کړل " هم چاپ شو چې په شاعرۍ کښې ئې خوند نور هم زيات شو او لوستونکي ترې نوره نوره مزه

اخلي.
زما دا دعا ده چې سراج صېب له دې الله ژوند لکه د ګل او عمر لکه د کهجورې د ونې ورکړي چې د پښتو ادب ته نور هم ډېر څه پېرزو کړي .

آمين

خپلې خبرې به په دې شعر راټولې کړم چې

ماله دغه هومره بس ده چې دې ياد يم
چې زما په دعا کېږي رب دې ګل کړه

ډاکټر فدا سيريوال
سرپرست پښتو ادبي ټولنه
زلمي ليکوال ، ضلع صوابۍ
نېټه : - 23 / ستمبر 2016 ء

# ژوندے انسان

دا زۀ خپله خوش بختي ګڼم چې د سپرلي خېزه واورينو سردرو د وطن پۀ يو داسې شاعر او شخصيت ليکل کوؤم چا چې خپل تور وېښتۀ د خپلې سردارۍ او سالارۍ ژبې پښتو د ژوند د بقاء او ښائيست پۀ منډه کښې سپين کړل ، چا چې د خپل ژوند يوه يوه لحظه د پښتو ژبې او پښتو ادب د پرمختګ لۀ پاره وقف کړې ده .............

زۀ ښاغلے سراج الدين سراج يادؤم .د سوات سراج ، د ټولې پښتونخواه سراج ، د ايلم فخر ، د پښتو د نظم استاذ ، او د معاصر غزل يو سندريز طوطي ، د چا پۀ قطعاتو کښې چې د شعر شېريني او ښائيست لکه د سوات د مغروره سيند چپې چپې دے۔

ښاغلي سراج صېب د ژوند پۀ هر اړخ ليک کړے دے او پۀ هره موضوع ئې ښۀ تفصيلي بحث کړے شي۔سراج صېب پۀ خپله شاعرۍ کښې ددې ساندې ، سرېکې سرېکې ، وينې وينې حالاتو ذکر هم کړے دےاو د غمِ جانان غم ئې هم ژړلے دے ، ددې اودۀ اولس د بېدارۍ چغه ئې هم وهلې ده ، او ددوې پۀ زخمونو ئې د پهو لګولو هڅه هم کړې ده ، خو زۀ به د هغوې د شاعرۍ مختصر غوندې جاج اغستلو د پاره د هغوې د يو څو شعرونو حواله ورکړم۔

سراج صېب د حالاتو د ناکردو ذکر او د خپل فن کمال ،کوم کمال سره بيانوي ، لکه چې وائي

خپلو سلګو نه مې سازونه جوړ کړل
لـهٔ پرهرونـو مـې ګلونـه جـوړ کـړل
چـې د حـالاتو پـهٔ مېچنـه دل شـوم
مـا د داغـونـو نـه خالونـه جـوړ کـړل

چې د خپل مینه ناک زړهٔ خبره کوي نو داسې ئې کوي

زهٔ مینــه وېشــم خــو د بــل نــه مینــه هــم غوارمــه
چرته چې مینه نهٔ وي هلته کښې مې زړهٔ نهٔ لګي
پهٔ هغه ځائې کښې ناسته نهٔ کوؤمه ساه مې اوځي
چې پـهٔ چـا ښـهٔ نـهٔ لګم یـا راباندې ښـهٔ نـهٔ لګي

زهٔ پـهٔ آخیـره کښـې د ربِّ ذوالجلال نه دا غوښـتنه کـوؤم چې څنګـه پزیرائي پهٔ عام اولس کښې د سراج صېب اولنۍ شعري مجموعې "پهې پهٔ پرهر " ته حاصله شوې ده ، هم هغسې پزیرائي دې " داغونه مې خالونه کړل " هم اومومي۔

آمین

پهٔ مینه او درناوي

**سمیع الله ګران** سوات

29 / اکتوبر 2016 ء

# خپلـــه خبـــره

ګرانو مينه والو ! دا کتاب " داغونه مې خالونه کړل " زما دويم شعري ټولګے دے ، چې ستاسو لاسونو ته مې د وړومبي ټولګي "پهې پهٔ پرهر " نه پوره يو کال پس در ورسولو . دا ستاسو د ډېرې مينې او شاټپونې وجه ده چې زهٔ ئې پهٔ دومره کمه موده کښې ددې دويم کتاب چاپ کولو جوګه کړم.

د دې کتاب کمپوزنګ هم ما پخپله کړے دے او پروف ريډنګ ورله پهٔ ما ډېر ګران او عزت مند ملګري خېرالحکيم صېب حکيمزي کړے دے . ددې کتاب شاعري هم ما لکه د هغه بل کتاب د حروفِ تهجی پهٔ ترتيب ايخې ده چې لوستونکو ته آساني وي او چې کوم غزل ، نظم يا قطعه لوستل غواړي نو چې پهٔ آسانئ ئې مونډلے شي.

بايد چې ددې کتاب ځنې شعرونو سره د ځنو مينه والو اتفاق هم نه وي ځکه چې دا ضروري نهٔ ده چې د چا د هر خيال سره دې هر څوک سل پهٔ سله متفق وي يا دا چې کهٔ چاته پهٔ ځنې شعرونو کښې خپل عکس ښکاره شي نو پهٔ دې ئې وا نخلي چې ګنې دا شعرونه ما پهٔ هغه پسې ليکلي دي. ددې د پاره زهٔ د ټولو لوستونکو نه معافي غواړم او دا وضاحت کوؤم چې زما مطلب د چا زړهٔ خفه کوؤل هرګز نهٔ دے .

www.pukhto.net

د مينه والو نه هيله لرم چې د کتاب لوستلو نه پس را سره خپله قېمتي رائې پۀ لانديني نمبر ضرور شريکه کړي چې ماته زما د غلطو يادګېرنه اوشي او پۀ بل ايډيشن کښې داسې غلطۍ او نۀ شي ـ

د ګران محمد پرويش شاهين ، محترم صابر شنواري ، محترم وکيل حکيمزي ، محترم ډاکټر اظهار الله اظهار ، محترم ډاکټر شبر زمان سيماب ، محترم فضل محمود روښان ، محترم نورالامين يوسفزي ، محترم ډاکټر محمد درويش او ډاکټر فدا سيريوال ،د ګران کشر سميع الله ګران او د محترم ډاکټر زبېر حسرت صېب د زړه لۀ کومې منندوې يم چې زما دې حقير کوشش ته ئې پۀ درَنه سترګه اوکتل او د خپلو زرينو خيالاتو څرګندونه ئې پرې اوکړه ـ

د ګرانو کشرانو رحيم الله شاهين او سېد عادل شاه ، ريډيو سوات هم ډېر زيات منندوې يم چې زما شاعرۍ ته پۀ درنه سترګه ګوري او وخت پۀ وخت ئې د اورېدونکو سره پۀ ريډيو شريکه وي ـ

ګرانو مينه والو ! د کتاب پۀ حقله ستاسو نظر ته سترګې پۀ لاره يم ـ

سراج الدين سراج

صدر ـ سوات ادبي غورځنګ

ګرزينده شمېره :- 03449777120

نېټه يکم نومبر 2016 ء

# حمدِ باري تعالیٰ

تـهٔ رازق ئـې تـهٔ خـالق ئـې تـهٔ فنکـار ئـې
د مخلــوق پــهٔ عملونــو خبــردار ئــې

حېوانــات دي نباتــات کــهٔ جمــادات دي
ربــه ســتا کــاريگری ده تخليقــات دي

کـهٔ دولـت دے کـهٔ صـحت دے کـهٔ بيـان دے
سـتا احسـان دے ربـه هـر څـو کـهٔ مـې تـوان دے

تــهٔ د هــر ذي روح د رزق ذمــه وار ئــې
تــهٔ پــالونکے د مخلــوق پروردګــار ئــې

د ذرې د کائينـــاتو نـــه خبرئـــې
تــهٔ علــيم خبيــر باچــا د بحروبــر ئــې

ســـراج ســتا د رحــم فضــل طلــب ګــار دے
کــهٔ هــر څــومره ګنــاه ګــارار او خطاکــار دے

O O O

# نعت شریف

چې پهٔ توره شپه کښې زېرے د سحر دے
د همت او حوصلې د آسمان نمر دے

د سماج هر یو ناسور له چې نشتر دے
د اُمت غم ئې پهٔ سر لکه د غر دے

د باطلو قوتونو چې منکر دے
حساس زړهٔ لري زړهٔ سواند دے، سترګه ور دے

چې ولاړ د حق د لارې پهٔ سنګر دے
رب ستائیلے پهٔ یاسین او پهٔ کوثر دے

د سراج د سترګو تور د زړګي سر دے
بل شوک نهٔ دے دا زمونږه پېغمبر دے

OOO

ايښــې ئــې پــهٔ غونــډه زنــه خــال وؤ خــو
ګورے چې پهٔ زړهٔ کښې ئې څهٔ خيـال وؤ خو

نــهٔ پــوهېږم ولــې پــهٔ ســتنه شــوه بيــا
ســر ئــې اوچــت کــړے پــهٔ دېــوال وؤ خــو
ور ئــې نــيم کښــو کــړو بيــا ئــې پــورې کــړو
مســـت نظرئـــې مـــا پلـــه لېـــوال وؤ خـــو
دومــره زر ئــې تــولې وعــدې هېــرې کــړې
مينځ کښې خو تېر شوے ايله کـال وؤ خو
بيــا مــې هــم ديــدار د ښــکلې مــخ اوکــړو
هــر څــو کــهٔ حائــل ئــې راتــه شــال وؤ خــو
را مـــې درلـــه نـــهٔ وړو ويرېـــدم ګلـــه
نــوم مــې دې ګــل کــړے پــهٔ رومــال وؤ خــو
ســتا هغــه تصــوير راســره اوس هــم شــته
ښــايم درتــه ايښــې مــې ســنبال وؤ خــو

پــاتې اوس ســـــر اج هغــه ســراج نــهٔ دے
ځــوان چــې وؤ نــو ســم د بــوډۍ تــال وؤ خــو

o ooo

بوډاتوب کښې چې ځواني ده
دا د خـــدائے مهربـــاني ده

نۀ مې زر شته نۀ مې زور شته
برقـــراره مـــې خـــاني ده

د اولـــس زړونـــو کښـــې اوسـم
بـــې جـــاګيره ســـلطاني ده

مينـه دلتــه کښــې عنقـا شـوه
خـــو د کرکـــو ارزانـــي ده

هـــر ځلمـــے نـــيم لېـــونے دے
هـــره پېغلـــه پېزوانـــي ده

د کـــــردار خبـــره نشـــته
د ګفتـــــار مســـــلماني ده

www.pukhto.net

پـــهٔ هـــر خـــواه نفسانفســـي ده
پهٔ هر کـور کښې ځـان ځـاني ده

د ايمـــــان خبـــرې کيـــږي
سراســـــر بـــــې ايمــــاني دهٔ

بـــې وســـي ده د بـــې وســـو
د شـــته منـــو مـــن مـــاني ده

کـــړه ونغــاړه ســـــــر اجـه
دنيـــا پـــاتې ارمــــاني ده

O O

# ليونتوب هم يو نعمت دے

پـهٔ غورېونـو کښـې مـې شـور ؤ
پـهٔ سـينه کښـې مـې غوغـا وه
څـــــهٔ غمونــــه د دوران وؤ
څـــهٔ غمونــــه د جانـــان وؤ
څــهٔ مـــې نــورې تلوســې وې
د پاســــتر نظــــام قيصــــې وې

د خوارانـــو بـــې وســـي مـــې
پــهٔ دې سـترګو ليـدے نـهٔ شـوه
د بد مســـتو بـــد مســـتي مـــې
پــهٔ دې سـترګو ليـدے نـهٔ شـوه

آخـر سـر کښـې مـې يـودرز شـو
پـهٔ غورېونـو کښې مـې کـړس شـو
هـــوش حـــواس مـــې رانـــه لاړل
زهٔ د غرونــــو ليـــونے شـــوم

د خپـــل ځانـــه بـــې پـــرواه شـــوم
لـــۀ جهانـــه بـــې پـــرواه شـــوم
د جانانـــه بـــې پـــرواه شـــوم
د هـــر چـــا نـــه بـــې پـــرواه شـــوم

اوس پـــۀ چـــا مـــې څـــۀ کـــار نشـــته
پـــۀ باچـــا مـــې څـــۀ کـــار نشـــته
د دوزخ نـــه بـــې پـــرواه شـــوم
پـــۀ مُـــلا مـــې څـــۀ کـــار نشـــته
اوس پـــۀ هـــيڅ يـــو ځنـــاور او
پـــۀ بـــلا مـــې څـــۀ کـــار نشـــته

خدايـــه څـــۀ رحـــم دې اوکـــړو
زۀ دې بـــې تاجـــه باچـــا کـــړم
لـــۀ غمونـــو اندېښـــنو نـــه
دې بـــې غمـــه پـــۀ دنيـــا کـــړم

ooo

جوړ مې د دردونو نه خالونه کړل
ګوره پرهرونه مې ګلونه کړل

ستا په تصور کښې داسې ډوب شومه
تاؤ مې دې د غاړې نه لاسونه کړل
سازې مې د ساندو نه سندرې کړې
خپلې ژړاګانې مې سازونه کړل
هغه شيبې کله هېرولے شم
تا چې به زما سره لوظونه کړل
ستا د ياد تېرې نوکې پرې خخې شوې
نوي ئې بيا مړاوي پرهرونه کړل
تۀ به مې غوښتې په دعاګانو کښې
ما چې به اوږدۀ اوږدۀ نمونځونه کړل

نور سراج د هجر په اُور مۀ سېزه
تېر ئې بې لۀ تا نه ډېر کلونه کړل

o o o o

www.pukhto.net

چرته چې نظام نۀ وي
هلته انتظام نۀ وي

غلي چې پۀ ظلم وي
ګډ وي ، عوام نۀ وي

سر کښې چې مازغۀ لري
دے د چا غلام نۀ وي

يو چې ئې کلتور نۀ وي
بيا خو به يو قام نۀ وي

ستونزو نه ويرېږه مۀ
سخته خو مدام نۀ وي

رسې به منزل ته ښه
اېښې چې دې ګام نه وي

بدو نه چې ښه کوي
بيا خو به بدنام نه وي

بل چې متاثر نه کړي
دغه به کلام نه وي

چرته چې سکون نه وي
هلته کښې اسلام نه وي

شعر به سراج ښه ليکي
کله چې الهام نه وي

o o o o

چې بنده څوک د بنده شي
خصلتونه ئې ګنده شي

خودداري ترې کډه يوسي
خوشامنده ئې دنده شي

چې د بل په سپوري اوسي
خپل ضمير ته شرمنده شي

چې محنت ، نه مشقت کړي
انحصار ئې په چنده شي

د سراج مراد به سر شي
چې يو رب ته په سجده شي

ooo

www.pukhto.net

چې پوره پۀ ژوندانۀ نۀ شي ارمان شي
چې د خُوږ زړګي درمان شي نو جانان شي

چې د يار پۀ خواه کښې ژوند کړي مطمئين وي
ټول ژوندون يې د سکون او اطمينان شي
حسد کرکه زندګي د زهرو ګوټ کړي
پۀ اخلاص او مينه هر مشکل آسان شي
تش د خپلو ستونزو غم څوانمردي نۀ ده
څوان هغه دے چې پۀ بل باندې قربان شي
پۀ کړو لارو چې درومي زيان به مومي
ګټه ور شي چې پۀ نېغه لار روان شي
چې نيزدې ګورے هر څۀ به درته ښکاري
چې نظر دې ورته نۀ رسي آسمان شي

کۀ د نورو شي سراج به بختور شي
چې د ځان شي مختورن به پۀ جهان شي

*o o o o*

## پښتانهٔ

چې د یو نظر یو فکر خاوندان دي
نو بیا ولې پهٔ جدا لارو روان دي

نهٔ یو شوي نهٔ امکان شته چې به یو شي
پښتانهٔ کهٔ مشران کهٔ کشران دي
څهٔ بې موره او بې پلاره زندګي کړي
دا بدبخته لهٔ ازله یتیمان دي
پهٔ خپل کلي کښې پردي جنګ کښې مړهٔ کېږي
جنګ له نهٔ ځي پهٔ خپل کور کښې شهیدان دي
خپل دشمن یې چرته نهٔ دے پېژندلے
کهٔ نران دي نو بس یو بل ته نران دي
د اسلام د الف ب نه خبر نهٔ دي
ژوند پرې نهٔ کوي لهٔ سره پرې قربان دي

نور قامونه مخ پهٔ وړاندې ځي سراجه
پښتانهٔ د خپله لاسه پهٔ لړزان دي

O O O

چې ژوندون د زهرو ګوټ شي
ارمانونه پکښې لوټ شي
چې خپل حق دې په سلوټ شي
وربوزونه درته بُټ شي

بیا په داسې ښار کښې څۀ کړې
تختــه کـړه تربنه یوســه

چې مکتب پکښې مقتل شي
آرزوګانې پکښې دل شي
چې ژوندون پکښې په چل شي
با عزته پکښې غل شي

بیا په داسې ښار کښې څۀ کړې
تختــه کـړه تربنه یوســه

www.pukhto.net

چــې رهبــر پکښــې رهــزن شــي
هــر وګــړے دروغجــن شــي
چــې اعتبــار لــۀ مينځــه اوځــي
بــې اعتبــاره مــرد و زن شــي

بيا پۀ داسې ښار کښې څۀ کړې
تختـــه کـــړه ترينـــه يوســـه

چــې قتلونــه پکښــې کېــږي
او انصــاف پکښــې خــر څيــږي
مـــامونې چـــې حلاليـــږي
شــېر عــالم پکښــې څربيــږي

بيا پۀ داسې ښار کښې څۀ کړې
تختـــه کـــړه ترينـــه يوســـه

*ooo*

www.pukhto.net

چې سترګې پۀ کجلو باندې تورې کړې جانان
اُورونه مې پۀ تن باندې راپورې کړې جانان

يا نۀ ګوري يا ګوري راته پټ د بڼو لاندې
خوشاله شم چې سترګې پرله پورې کړې جانان

پۀ مينه ئې شکي شم اند ښنې مې پۀ سر واخلي
نظر چې پۀ محفل کښې پۀ بل لورې کړې جانان

پۀ هغه وخت د ځان او لۀ جهانه خبر نۀ يم
چې پټ مې د خورو زلفو پۀ سيورې کړې جانان

سراج ئې پۀ يوه ساده ادا ليونے کېږي
چې بيا ولې کانې وربانديې نورې کړې جانان

OOOO

www.pukhto.net

چې عنوان مې ستا جمال شو
پۀ کلام کښې مې کمال شو

چې زما پۀ زړۀ کښې داغ شو
ستا پۀ غونډه زنه خال شو
زۀ به څومره بختور شم
کۀ نصيب مې ستا وصال شو
خوب خندا ئې راله ورک کړل
مينه نۀ شوه خو جنجال شو
دا سماج څومره ظالم دے
چې زمونږ مينځ کښې د ېوال شو
اوس به څۀ کېږي لاليه
زړۀ مې تا پله لېوال شو

د سراج زړۀ به تۀ اوچوي
ګله ! ستا زړۀ کۀ ملال شو

*o o o o*

# بې ثباتي

دا خـــزان وهلـــې پاڼـــه
دا پـــهٔ زمکـــه چـــې پرتـــه ده
تکـــه زيـــړه لولپـــه ده
د حـــالاتـــو پـــهٔ آســـره ده
دا بـــه هـــم چـــرې غـــوټۍ وه
چـــې راغلـــې پـــهٔ ځـــوانۍ وه
پـــهٔ هـــوا بـــه رپېدلـــه
پـــهٔ ورو ورو بـــه خندېدلـــه
خـــو آخـــر ورېژېدلـــه
اوس به خاورو کښې فنا شي
پـــهٔ انجـــام ئـــې ژړا راشـــي
دې کښـــې پټـــه مـــې قيصـــه ده
مســـئله راتـــه پرتـــه ده
زهٔ بـــه څنګـــه پـــهٔ خنـــدا شـــم
چـــې انجـــام مـــې الميـــه ده

ooo

دا مـــنم چــې ښــکلي ډېــر دي
څــوک د خــوږ جانــان پــۀ څېــر دي

چـــې لـــۀ تـــا بـــه زاربدمـــه
نـــور هغـــه وختونـــه تېـــر دي
د راتلـــو لـــوظ دې اوکـــړو
اوس منکـر ئـې چـې مـې هېـر دي
پښـــتانۀ راباتـــدې ګـــران دي
کـــۀ د ســـوات کـــۀ د بـــونېر دي
د یـــارانو نـــه زاربـــږم
کۀ څوک من دي کۀ څوک سېر دي
د ښـــو غشـــي دې یـــاره
ښـــخ پـــۀ زړۀ مـــې تېروبېـــر دي

د ســـــراج خیالونـــه اوس هـــم
ســتا د زلفــو دام کښـې ګېـر دي

OOOO

www.pukhto.net

درد وي چــــې درمـــــان نــــۀ وي
خــوا کښــــې چــې جانــان نـۀ وي

را بــــه شـــي يقــين مـــې دے
هلــــۀ کــــۀ بــــاران نــــۀ وي

زبـــاد مـــلازه ســـر اوخـــوري
مينـــه کښـــې احســـان نــۀ وي

لـــوظ چـــې ثـــوک نـۀ پــالي
دۀ کښـــې بــــه ايمـــان نــۀ وي

لـــوټ شـــي پــۀ رڼـا ورځـــې
مـــل چـــې ئـــې کــاروان نـۀ وي

ګټه چې څوک نهٔ کوي
ويره د تاوان نهٔ وي

خان به خاني څنګ کوي
چرته چې خواران نهٔ وي

چا کښې چې الفت نهٔ وي
بيا خو به انسان نهٔ وي

خواله ئې سراج نهٔ ځي
دهٔ باندې چې ګران نهٔ وي

OOOO

دردېدلو ، رنځېدلو له پېدا شوم
ځورېدلو ، ژړېدلو له پېدا شوم

وچې پانې د نمر تپ ته پروت خشاک شوم
تنارهٔ کښې سوزېدلو له پېدا شوم

د حالاتو پهٔ مېچنه باندې دل شوم
لړزېدلو ، کړېدلو له پېدا شوم

زهٔ د خپلې برخې لنډه برېستنګۍ کښې
ټولېدلو ، غزېدلو له پېدا شوم

سراج پوهه د ژوندون پهٔ خوږو نهٔ شوم
لکه پانه رېژېدلو له پېدا شوم

OOOO

www.pukhto.net

د لـــوړو تـــورو غرونـــو غـــرځنې يمـــه ملګـــرو
پــهٔ مينــه محبــت بانــدې ژونــد ے يمــه ملګــرو

پــهٔ مينه بانـدې پائمـه او مينـه مـې مـذهب د ے
د مينـــې د رڼـــا اُور اورکـــے يمـــه ملګـــرو
پهٔ هغه خاوره مرمـه چې د کـومې خـاورې خورمـه
خپـــل ســـر پـــرې زاروؤمـــه لېـــونے يمـــه ملګـــرو
بــوډا يــم خــو لاهغســې د ژونــد پــهٔ رېګزارونــو
پـهٔ تـګ کښـې د هـر چـا نـه ګړنـد ے يمـه ملګـرو
ځوان نهٔ يم خو همزولـې مـې زمـا نـه بوډاګـان دي
شـــپېتوؤ نـــه لپاســـه هـــم زلمـــے يمـــه ملګـــرو
بې سره چاپېرچل کښې مې د ژوند کلونه تېر کړل
پــهٔ زړهٔ ســورے ســورے خــو خنــدنے يمــه ملګــرو

ســـر اجــه يــوه ورځ بــه دې خزان تالــه والــه کــړي
دا مــهٔ وايــه چــې تــل بــه پســرلے يمــه ملګــرو

*o o o o*

دواړه لاسه مې د غاړې نه چاپېر کړه
د زلفانو په حِصار کښې مې راګېر کړه

د خپل حسن په شرابو مې نشه کړه
د وختونو ستمونه رانه هېر کړه
په سوالونو په منختو په لاس راغلې
يو ساعت راسره غاړه غټې تېر کړه
ښنګ چې زۀ په تا د مال او سر ه تېر يم
راترغاړه اوځه ځان زما په ځېر کړه
ستا د هجر غم مې زړه کښې دَرَز جوړ کړو
د وصال په مرهمونو ئې کوشېر کړه

انتقام ترې د سراج د ستم واخله
په غماز باندې ژوندون زهر ګنډېر کړه

O O O O

دلــه د زمــانې بــه وي خــو نــر بــه ورتــه وائــې
خـائن بـه وي ، لوټمـار بـه وي رهبـر بـه ورتـه وائـې

چې تا د دين پۀ نوم پۀ نورو نورو باندې سر کړي
مجبــوره ئــې ، وارث د پيغمبــر بــه ورتــه وائــې
کــۀ هــر څــومره مشــين وي د دولــت د جوړولــو
خـو بلـه لار دې نشـته دے ، ډاکټـر بـه ورتـه وائـې
زمــونږه پــۀ ســرونو کــۀ ډالــر ګټــي نــو خبــر دے
کـۀ خانـدې او کـۀ زاړې ، د زړۀ سـر بـه ورتـه وائـې
کـۀ تکـه تـوره شـپه ده د ظلمـت تيـارې خـورې دي
چـې دے ورتـه سـحر وائـي ، سـحر بـه ورتـه وائـې
کۀ کرکې خورَوي خبر دے خو چُرَ د خلې او نۀ کړې
د امــن ورور ولــې د آســمان نمــر بــه ورتــه وائــې

سراجه مجبوري ده چې با ئيللے دې پرې زړۀ دے
هـر څـو کـۀ سـتمګر دے خـودلبر بـه ورتـه وائـې

*OOOO*

زمــونږه بــې وســې پــهٔ دېوالونــو ليکــل غــواړي
د قــام دا بــده ورځ پــهٔ اوښــکو وينــو ژړل غــواړي

د خــوارې بــدې ورځــې وجوهــات لټــول غــواړي
دا کربښــې د لاســونو پــهٔ تــدبير ســمول غــواړي
پــرون زهٔ لېــونې وۀم چــې دنيــا مــې بدلولــه
خو نن راتـه معلومـه شوه چې ځـان بـدلول غـواړي
راځئ چې مينـه مينـه شو چې دا دنيـا جنت کـړو
وګــړو تــه د مينــې ســبقونه وئيــل غــواړي
د کرکې ، دشمنۍ ، حسد فصلونه ټول تباه کړئ
د مينې ، خواخوږۍ ، ورورۍ تخمونه کرل غـواړي
محنت ته ضرورت دے چې وطن ګل و ګلزار شي
دا لـوږې ، بې وسۍ بـه پـهٔ کـردار زغلـول غـواړي

ســـــراجه پـهٔ خبـرو خـو قامونـه نـهٔ جـوړېږي
عمــل د لارې مــل کــړه دا وطــن جــوړَول غــواړي

OOOO

# انصاف

زۀ دې مړ کړم

تۀ ژوندے ئې
ښۀ دې اوکړل

لۀ غمونو نه دې خلاص کړم
خبر تۀ اوګرځه څۀ ورځې
زۀ به ناست يمه پۀ طمه
چې تۀ راشې
ملاقات به سره اوشي
سپيناوے به سره اوشي
د الله پۀ عدالت کښې
څوک صادق
څوک دروغجن وۀ
وړ به وړ شي
پړ به پړ شي
ځان پۀ دې خبره پوی کړه
چالاکې منافقت به
هلته نۀ وي
د دروغو عدالت به
هلته نۀ وي
فيصله به پۀ انصاف وي
فيصله به پۀ انصاف وي

ژوندون هلـــهٔ د مـــزې وي
چــې بــې غمــه ورځــې شـپې وي

چــې ترڅــو پــورې بــه خدايــه
دا د غـــم لـــړې خـــورې وي
تــهٔ چــې نــهٔ ئــې خــوږه يــاره
پــهٔ نصـيب مــې شــوګيرې وي
زهٔ شـــلېدلے ګرېـــوان ګـــرځم
ستـا پــهٔ مــخ زلفــې خــورې وي
پـــهٔ دعـــا راتـــه منظـــور دي
کــهٔ د يـــار د خلــې خبــرې وي
څـوک د چـا د بـاغچې ګـل شـي
څـــوک ګلونـــه د مېـــرې وي
د چـا عـېش عشـرت پـهٔ برخـه
د چــــــا زړهٔ ارې ارې وي

ســـر اج ټولـه شپه شـوګير کړي
ددهٔ څکــه ســـترګې ســرې وي

*OOOO*

شيخ وائي ښائيست څۀ کې ښکلا څۀ کې
زۀ وايم چې دا نۀ کې نو بيا څۀ کې

دلته د جانان پۀ خوږو موړ مې کړه
نغده سودا ښه ده پۀ نسيا څۀ کې

مينه کښې خو زړۀ کوه توکل کوه
مينه کښې سوچونه څۀ سلا څۀ کې

نن راسره کښېنه چې مشغول شو لږ
چا سبا ليدلې پۀ سبا څۀ کې

يه سراجه نور لۀ خدايه څۀ غواړې
ښکلې يار ئې درکړو پۀ دنيا څۀ کې

نسيا يعنې ادهار

o o o o

www.pukhto.net

کـۀ غريـب دے او کـۀ خـان دے
دلتــه هــر ســړے پــۀ ځـان دے

م زرمـــا هـــر څـــۀ زمـــا دي
دغـــه کـــار د حکمـــران دے

څـوک عېشـونه او مسـتي کـړي
څـــوک د پـــوزې اوېـــزان دے

پښتـون اوس هـم پوهـه نـۀ دے
لاس تـــــړلے بنـــــديوان دے

حقيقـــي ژونـــدون هغـــه دے
چـې پـۀ بـل بانـدې قربـان دے

هغـــه پـــړ دے ګنـــاه ګـــار دے
چـې کمـزورے دے، نـاتوان دے

د خپل حق تپوس اونهٔ کړې
دا خو ښارِ ناپُرسان دے

د گفتار غازیان بلها دي
د عمل ، کردار فقدان دے

بارانونه د خېر نشته
د طوفان ، زلزلې امکان دے

فسادونه بې امنې ده
او وطن د مسلمان دے

ژړاګانې واوېلا ده
پهٔ هر لوري هاے سوران دے

کهٔ دا حال وي نو سراج خو
کله نغارې ترې روان دے

OOOO

کـۀ هــر څــو د غلامــانو غلامــان یــو
خـو غـاوره یـو چـې سـتوري د اسـمان یـو

عالمونــه د عــروج پــۀ بــام ولاړ دي
مونږ د حسد ، بغض ، کرکې مریضـان یـو
نـۀ قـانون شـته نـۀ نظـام نـۀ انتظـام شـته
پـۀ یـو داسـې چاپېرچـل کښـې اوبـزان یـو
نــور څــۀ نــۀ دي د عمــل ردِ عمــل دے
مــونږ د خپلــو عملونــو مجرمــان یــو
ټـول بـه دغسـې د ځـان پـۀ ویـر اختـه یـو
چې د بـل پـۀ غـم غمجـن نـۀ یـو د ځـان یـو
چــې کــوم چاتــه د منــزل څــۀ پتــه نشــته
پتـې سـترګې پـۀ هغـوې پسـې روان یـو

نوے کُول به مو معاف نۀ کړي سـراجـه
د هغــوې د ارمــانونو قــاتلان یــو

*OOOO*

مرګ له دې پيدا کړمه
سر دې په سودا کړمه

را دې کړه ځواني اول
بيا دې زر بوډا کړمه

ستا دنيا د غم ډکه
څنګه به خندا کړمه

حسن دې راولېږو
زۀ دې پرې تباه کړمه

ښکلې يار دې راکړلو
بيا دې ترې جدا کړمه

www.pukhto.net

دې کښې دې حکمت څۀ وو
زۀ چې دې فنا کړمه

نفس شيطان دې راکړلو
ځکه خو ګناه کړمه

اوس درنه دا سوال کوؤم
ربه التجا کړمه

ما سراج کۀ اوبخښې
سوال درنه الله کړمه

*oooo*

مونږ د هر ارمان په مرۍ غلي يو
بيا هم ځان ته وايو چې ښاغلي يو

خلکو د ژوندون نه مزې واغيستې
مونږ د هرې چارې نه وتلي يو
کار کسب مو نشته لاس نيوې کوؤ
ژوند په قرض پور کړو نازولي يو
نۀ مو څۀ مرام شته نۀ مقصد شته دے
پوهه نۀ يو څۀ شي له راغلي يو
دا چې غلامان د غلامانو يو
خپل عمل هر ځائې کښې شرمولي يو
ژوند د انګريزانو په امداد کوؤ
خير ته رهبرانو کښېنولي يو

چل سراج له اوس د خلاصي نۀ ورځي
حسد ، کرکې توت ته خېژولي يو

oooo

مــــــونږه دواړه مســــــافر يــــو
څــئ مــــوده بــــه دلتـــه اوســـو
تـــئ بـــه هـــم ځـــې زۀ بـــه هـــم ځـــم
پـــردي کـــور کښـــې مېلمانـــۀ يـــو
دا نـــۀ ســـتا دے نـــۀ زمـــا دے
دلتـــــه ډېـــــر خلـــــک راغلـــــي
بيـــا خپـــل کـــور تـــه بيرتـــه تلـــي
بادشـــاهان هـــم پـــاتې نـــۀ شـــول
ملنګـــان هـــم پـــاتې نـــۀ شـــول
کـــۀ چـــا بـــل د تېغـــه تېـــر کـــړو
نـــــو هغـــــه هـــــم ترينــــه لاړو
ســـــکندر ترينـــــه هـــــم تلـــــے
چـــــا وئيـــــل ډېـــــر زوره ور ؤ
خـو خپـل ځـان ئـې پـاتې نـه کـړو

www.pukhto.net

چنګېز خان به درته ياد وي
د سرونو سوداګر ؤ
مودې اوشولې چې مړ دے
اوس په خاورو کښې ککړ دے
شاه جهان هم يو باچا ؤ
نوم ئې شته خو هغه نشته
تاج محل ئې ؤ جوړ کړے
خپلې ښځې نور جهان له
هغه دواړه ترېنه تلي
تاج محل په ځائې ولاړ دے
ټول عالم ئې ننداره کړي
حسېن هم په دنيا نشته
يزيد هم د خاورو ځلے
د مېوند ملاله لاړه
د غوربند دا به هم درومي

څوک به هم نهٔ پاتې کیږي
خو چې د چا څهٔ کارنامه وي
نو بس ذکر به ئې کیږي
یا د نېکې یا د بدې
مونږه بیا هم نهٔ پوهېږو
چې پهٔ دې دنیا غولیږو
مونږه ټولو له پکار ده
چې دا ژوند پهٔ مینه تېر کړو
حسد ، بغض ، کینه هېر کړو
د یو بل نه زار قربان شو
سم پهٔ نېغه لار روان شو
هم به دلته کښې کامران شو
هم به هلته کښې کامران شو

OOO

مینــه دې دردونــه ســېوا کـئـی کـۀ نـۀ
شـپې درلــه پـۀ وېښــه سبا کئـی کـۀ نـۀ

زۀ تربنــه پــۀ قــص مــره ور شــوے یــم
ګورمـه چې اوس مې پخلا کئی کۀ نۀ

وائــي چــې ســبا لــه بــه خلـۀ درکړمــه
ګورے چې دا لوظ ریشتیا کئی کۀ نۀ

نــور د هجــر تــاؤ زغملــے نــۀ شــمه
پــلار دې دا خبــره صــفا کئــی کـۀ نـۀ

ستاسو کور کښې څۀ فېصله اوشوله
اووایــه چــې مالــه دې را کئــی کـۀ نـۀ

اے ځلمیــه ! ډاډ اوســه ، خوشــحاله شــه
ستا ترجماني خو ســـر اج کئی کۀ نۀ

oooo

تنگ چې کړي په خاوره تنگیالے به شي
قام چې سرخرو کړي توریالے به شي

زۀ د پسرلي په راتلو څۀ کوؤم
یار چې کله راشي پسرلے به شي
سر تري زاره وؤمه سر ترې غوارمه
سر چې رانه زار کړي نو لالے به شي
زر چې د زرگر د څټک لاندې شي
سختې چې برداشت کړي نو کالے به شي
څوک چې د مرام په لوري تگ کوي
رسي به منزل ته بریالے به شي
عرشه پورې رسي د مظلوم چغه
څوک چې ازار نۀ کړے اسوېلے به شي

زړے په سراج دې د راتلو اوکړه
لارې به دې څاري هرکلے به شي

O O O O

نهٔ پهٔ ژوند خوشاله یم ، نهٔ مې مرګ ته زړهٔ کېږي
یو دوه کښې اتاله یم ، خدایه اوس به څهٔ کیږي

ربه ستا بنده یمه ، تاته شرمنده یمه
نوره بندګي د چا ، دلته ما نه نهٔ کېږي

مهٔ کوی ګیله د چا ، خپل عمل د لارې مل
مونږ سره چې څهٔ کیږي ، پرېږده مړه بنهٔ کېږي

زړهٔ مې درتلل نهٔ غواړي ، څنګه درله درشمه
دے چې پهٔ کوم لوري ځي ، هغه پله تلهٔ کېږي

بیا سراج پهٔ چغو شو ، زور پرهر ئې اوګرؤ
اوس به پکښې خامخا ، نَو کیږي اوبهٔ کیږي

O O O O

# قناعت

نــهٔ د دولــت وږے یــم ، نــهٔ د شــهرت وږے یــم
څــهٔ عجیبــه ســړے یــم ، د محبــت وږے یــم

پــوره کــهٔ ســپوره وي خېــر ، ددې پــرواه نــهٔ لــرم
ژونــد تېــره ول غواړمــه ، بــس د عــزت وږے یــم
د چــا نــه هــیڅ نــهٔ غــواړم ، ریښــتیا وېنـا غواړمــه
وایــم او اورم ریښـــتیا ، د صـــداقت وږے یـــم
د رب رضــا غواړمــه ، هــم ترېنــه ژونــد د عــزت
نــهٔ ترېنــه حــورې غــواړم ، نــهٔ د جنــت وږے یــم
دنیــا کښــې امــن غــواړم ، هــم خوشــحالي غواړمــه
شــر ، افــت نــهٔ خوښــه ووم ، د شــرافت وږے یــم

څــهٔ چــې راکــړي الله ، صــابر شــاکر یــم ســـــر اج
ولـــږه د مـــال نـــهٔ لـــرم ، د قناعـــت وږے یـــم

O O O

نه مې ډله نه پره شته نه د چا نه متاثر یم
عجیبه غوندې سړے یم ، د خپل ځانه متاثر یم

د علومو خزانه ده ، مونږ دمونو له پکار کړه
کتابونو کښې ملګرو ، د قرآنه متاثر یم
رب واحد دے لاشریک دے ، مجسم وجود ئې نشته
د ذرې د کائینات نه ، د هوا نه متاثر یم
چې رحمت العالمین دے ، دے سردار د انبیاؤ
تاسو پوهه شوئ ملګرو ! چې د چا نه متاثر یم
د انسان نه ښاروے جوړ کړي ، روغ دماغ ئې اخاړه کړي
پۀ دې لړ کښې د دې دور ، د ملا نه متاثر یم
پۀ لباس کښې د رهبر چې ، د خوارانو استحصال کړي
زۀ قسم دے کۀ زه د داسې ، رهنما نه متاثر یم

کوم سړے چې تیار خور وي ، زما نۀ لګي سراجه
چې محنت کوي د هغه خوار جولانه متاثر یم

oooo

يقينـي چـې کـړي اولـس لـه څـوک روښـانه سـباؤن
هغــه خلــک حــق ادا کــړي پــهٔ ژونــدوني د ژونــدون

دا زهٔ نـهٔ وايـم خـدا ے وائـي د هغـوې حالـت بـدلېږي
چـې محنـت ئـې وظيفـه وي او آرزو کـړي د بـدلون
هغه خلک خوار خراب شي د الوت وزر ئې غوڅ شي
د سـبا فکـر چـې نـهٔ کـړي او قيصـې کـړي د پـرون
د صـورت سـره سـره خـو د سـيرت ښـکلا پکـار ده
پـهٔ هغـه ښـکلي بـه څـهٔ کـړے چـې خيـرن وي انـدرون
دولت اوګټه بېشکه خو د خېر پهٔ کار ئې صرف کړه
د کفــن جېبونــه نــهٔ وي عبــرت واخلــه د قــارون

دا اُودهٔ قـام بـه ســر اجـه د سيالانو سره سيال شي
کـهٔ جذبـه ورکښـې پيـدا شـي ، د تحقيـق او د لټـون

O O O O

آهونــه ، ژړاګــانې ، واوېــلا راتــه ښــکارېږي
والله که پهٔ دوربین کښې هم رڼا راته ښکارېږي

تـر څـو بـه د مظلـوم د بې وسـۍ پـهٔ تماشـه یـو
تـر کـومې بـه منظـر د کـربلا راتــه ښــکارېږي

O O

اختر نوم د خوشالو دے ، خوشالي چې چرته نهٔ وي
بیا خو اومنۍ چې هلتـه ، اختـر نهٔ دے محرم دے

چې د لـوږو سـره مـخ وي ، د هغـو بـه څهٔ اختـر وي
دا د هغه خلکو حق دے ، چې پهٔ چا د رب کرم دے

O O

اصول دي چې د هر یو عمل خپل ردِ عمل وي
چې داسې دې کوله نو بس دا خو به کېده

اوس غور شه نتیجې ته پهٔ انجام ئې غور اوکړه
د دغسې لاتجې نه خو به داسې رغېده

O O

اویا کاله کښې منزل تر لاسه نهٔ شو
کهٔ هر څو مو پسې منډه پهٔ تُندی کړه

د مرام هما اوس نهٔ ښکاري پهٔ سترګو
اوئې نهٔ ویشته خو ښه ئې ګرندی کړه

O O

www.pukhto.net

ايدهي مړ شو سترګې ئې بل ته عطيه کړې
بل سړے به اوس پۀ دې سترګو ليدے شي

سترګې هغه دي بې شکه خو ملګرو
د ايدهي پۀ نظر څوک چاته کتے شي

o o

اے ستورو جواب راکړئی چې اشنا به چرته وي
زما د سترګو تور د زړۀ رڼا به چرته وی

يادونو چې د چامې دي خوبونه تبنتولي
چې خاندي به هغه کۀ پۀ ژړا به چرته وي

سراجه دوه مئين چې لۀ يو بله جدا کيږي
ددې نه بله سخته پۀ دنيا به چرته وي

o o

بـد ئـې مـۀ ګڼـه کـۀ څـوک دې قبـول نـۀ کـړي
د هــر چــا د قبلولــو خپــل خپــل تــوان وي

د ارزان شــي خصــمانه خــو اســان کــار دے
حفاظـــت د قيمتـــي څيزونـــو ګـــران وي

O O

بريت مې تور دي خو د سر ويښتۀ مې سپين دي
زمــا بريــت زمــا د ســر نــه کشــران دي

مــودې اوشــوې زۀ لاهغســې ماشــوم يــم
خــو همزولــي مــې زمــا نــه مشــران دي

O O

بــس د ے نــور د زړۀ د زوره پرېــوتم
ســاندې دي ســندرې رانــه نـۀ کېـږي

جنګ مې وۀ ددې غاصب نظام سره
زېرئــې کــړم خبــرې رانــه نـۀ کېــږي

O O

بهر موسم بـه څۀ کړي چې د زړۀ موسم ښـۀ نۀ وي
پـۀ زړۀ کښـې چـې دننــه پســرلے وي ، پســرلے وي

کۀ اوړے وي کۀ ژمے وي پـۀ دې مې څۀ کـار نشـته
خو هلـۀ بـه خوشـاله یم پـۀ خـواه کښـې چې لالے وي

O O

بې محنتـه مرتبـه مونـدلې نـهٔ شـي
زيار چې او نهٔ کړې کمال نهٔ پيدا کيږي

چې مخلوق درنـه رضـا نـهٔ وي سـراجه
د خـالق د رضـا سـوال نـهٔ پيدا کيږي

O O

پـاتې اوس جانـان هغـه جانـان نـهٔ دے
څـهٔ امکـان د وصـل پکښې نـهٔ کيږي

زمکـه د زړګـي ئـې للمـه شـوې ده
بـې بارانـه فصـل پکښې نـهٔ کيږي

O O

پاکه ربه بې لتا نه زما څوک دي
بختور يمه چې تهٔ مې پهٔ پَره ئې

د دنيا د خلکو هيڅ طمه دار نهٔ يم
تهٔ مې طمه ، تهٔ اميد ، تهٔ مې آسره ئې

O O

پاکه ربه د خپل دره راله راکړه
د بل ورکړې ته والله کهٔ خوشالېږم

پهٔ اوږو مې بيا د پېټي غوندې بار وي
د انسان د احسانونو نه ويرېږم

O O

پښتانهٔ پاتې نهٔ دي
پښتو لیکل نهٔ ورځي

پښتو وئیلے شي خو
پښتو کوَل نهٔ ورځي

O O

پښتون چرته بې پښتو کارونه نهٔ کړي
بې پښتو چې وي نو بیا خو پښتون نهٔ دے

چې بې ننګه شي نو مرګ ورله پکار دے
د بې ننګه پښتون ژوند څهٔ ژوندون نهٔ دے

O O

www.pukhto.net

پښتانۀ خو لۀ ازاله مېلمه دوست دي
ستا غمونه هم پټ پالي پښتانۀ دي

نن ئې بيا د کوربه توب پۀ خوږو مور کړم
نن مې بيا د چا يادونه مېلمانۀ دي

O O

پرون تېر شو لکه باد
او نن هم نۀ شومه ښاد
پۀ سبا څۀ اعتماد
ژوندون هسې شو برباد

O O

پښتنو ! پښتو زمونږ پېژندګلو ده
پښتو وايئ ، پښتو ليکئ ، پښتو لولئ

دا يوازې ژبه نۀ ده دستور هم دے
هر عمل مو د پښتو پۀ کانړي تلئ

O O

پښتنو ! پۀ دې خبره ځان خبر کړئ
پښتو پت ، ښېګړه ، توره او وفا ده

پاسداري ده د سپېڅلو روایاتو
ښېرازي ده ، ښائيستونه دي، ښکلا ده

تودوخي د مور د غېږې ، تازګي ده
وحشت نۀ دے تورتمونو لـه رڼا ده

O O

پـهٔ اســلام بانــدې د خپلــه ســره تېــر يــو
چــې د مــال خبــره راشــي پــهٔ شــا کيــږو

پــهٔ حجونــو تبليغونــو ډېــر مئــين يــو
خــور چــې خپلــه برخــه غــواړي خفــه کېــږو

O O

پـهٔ اعلـیٰ او شـاندار مـوټر کښـې ګرځـي
د کروړونـو پـهٔ بنګلـه کښـې اسـتوګن دے

بېنک بېلنس ئې پهٔ ډالرو کښې موجود دے
د غريـب د آخـرت پـهٔ غـم غمجـن دے

*O O*

پـۀ جاهلــه ، پســمانده معاشــره کښــې
کۀ شريف شوې شر ، آفت به درته جوړ شي

جنګيــالے شــه کــۀ د امــن طلبګــار ئــې
کۀ دا نۀ کړې مصيبت بـه درتـه جوړ شي

O O

پۀ جرېب زمکه خو شلوښت تربوران وژني
پښـتـانۀ يــو بــل تــه څــومره بــاتوران دي

نـۀ پـرون د قــام پــۀ ننـګ بانـدې ولاړ وۀ
او نــۀ نــن د يــو مــرام پــۀ لــور روان دي

O O

پـهٔ خبـرو بـه هيڅـوک مطمئـين نـهٔ کـړې
د عمــل او د کــردار نــه چــې عــاري ئــې

بدخواهان به دې هر ځائې کښې شرمنده وي
چــې تــر څــو د بــدو چــارو انکــاري ئــې

O O

پـهٔ خـزان کښــې د سـپرلي د بـاد وږمـه ئـې
د هجــران پــهٔ تورتمونــو کــې ډيــوه ئــې

پهٔ سُور نمر کښې ئې د ګورې ونې سېورے
ســترې ژوندانـهٔ لـه مـې دمـه ئـې

O O

پۀ ځان چې نۀ نازېږم نور به پۀ چا اونازېږم
د خدا ے د ذات نه علاوه بله آسره نۀ لرم

چې مينه نۀ خوروَي درس د نفرتونو کوي
پۀ داسې دين باندې د سره عقيده نۀ لرم

O O

پۀ دې سيمه کښې څۀ کارونه بند دي څۀ آزاد دي
ښۀ ستايه خو د بدو پۀ غندلو پابندي ده

دروغ او خوشامد ، دوه رنګي راز د پرمختګ د ے
خو صرف د رېښتياؤ پۀ وئيلو پابندي ده

O O

پــهٔ زړګــي دننــه ســخت لکــه د کــاڼي
ترس ئې نهٔ راځي اکثر چې ډاکټران دي

د بيمــار د مجبــورۍ نــه فائــده اخلــي
د دولـــت د جوړولـــو مشـــينان دي

O O

پــهٔ زمکــه کښــې دننــه د بــدلون عمــل روان وي
چــې ســر تــه کلــه اورسي نــو هلــهٔ زلزلــه شــي

دپاســه پــهٔ دې زمکــه چــې د ظلــم انتهــا شــي
ظالم سوے سکارهٔ شي چې مظلوم د اُور لمبه شي

O O

پـهٔ ژوندوني څـوک لـهٔ چا مطمئـين نـهٔ وي
خامخـــا پکښـــې عېبونـــه را اوباســـي

خو چې مړ شي د هر چا د سترګو تور شي
پـهٔ لاش اوښکې تويـه وي کريکې اوباسي

o o

پهٔ ژوندوني خـو مې نـهٔ راتلې تپـوس لـه
اوس چې مـړ شومه پـهٔ مـړي مـې ژړېږې

کهٔ پهٔ مـا مئـين ئـې ځـان راپسـې مړ کړه
چې زهٔ لاړ شـم نـو تـهٔ چاتـه پـاتې کېږې

o o

پهٔ شتهٔ وطن کښې څهٔ بې وسه ورځې شپې کوؤمه
د وچ کيکـر د غنـو سـېوري تـه دمـې کوؤمـه

د ګلستـان غـونچې د ګلـو ، ګـل چينـانو يـوړې
حېــران ولاړ يــم د ګلونــو جنــازې کوؤمــه

O O

پــهٔ ظــاهره بــه ســاده بــاده ليــدهٔ شــم
خــو پوهېږمــه شــپږم حِـس مــې بېـدار دے

د اظهــار ژبــه مــې ګونګــه وي خــو بيــا هــم
ماته پته وي څوک يار دے څوک ښامار دے

O O

پـۀ علمـي ، ترقـي يافتـه معاشـره کښـې
عزتمنـد شـي چې څوک اهـل د عـزت شـي

د وحشـت او نـاپوهۍ پـۀ چاپېريـال کښـې
چې د نورو وينې توې کړي شخصيت شي

O O

پۀ لپو اوښکې توې کړمه نو زړۀ مې پـۀ قـرار شـي
دا ځکــه خــو ملګــرو محــرم تــه خوشــالېږم

اختر خو د هغوې وي چې د سيالو سره سيال وي
ســيالي کــولے نـۀ شــمه نــو غــم تــه خوشــالېږم

O O

پۀ مرګ باندې چې مرمه نو بيا ولې ترې ويرېږم
دا زهر بـه د ستوني نـه يـو ورځ تېـرَول غـوارې

يو څو ورځې ژوندون دے پۀ خندا ئې تېرَوومه
غمونـه اند يښنـې بـه پـۀ تـدبير زغلـول غـوارې

O O

پۀ وجود دننه خپـل ډاکټر موجود وي
د بهر ډاکټر تـه دومـره حاجت نـۀ وي

د ځنګل ځناور څومره صحت مند وي
ګنـې هلتــه د ډاکټـر سـهولت نـۀ وي

O O

پۀ وسائيلو خو مې تۀ قابض ئې
زۀ پۀ تش لاس بچو لـه څۀ اوګټم
د سين پۀ شګه اختيار نۀ راکوې
چې ماشومانو له سبر اوړۀ اوګټم

O O

پـۀ هغـه خلکـو بـه ګـورے څـۀ تېريـږي
چې پراتـۀ ورتـه پـۀ کـور کښـې رنځـوران وي

چې بې کاره بې روزګاره کور کښې ناست وي
جېب ئې تش وي پۀ شيبو شيبو باران وي

O O

پـهٔ يـو حـال کښـې مـې خوښـه دوه رنګـي نـهٔ ده ملګـرو
پرېږدم برېتـو کښـې تور او سپـين پـهٔ زور ترېنـه اوباسـم

چې کله پهٔ مقـدار کښـې سپـين د تـورو نـه سـېوا شـول
نـو سـپـين بـه پکښـې وي او بيـا بـه تـور ترېنـه اوباسـم

O O

پيـژنم ئـې سـم او سـم مـې پېژنـي
پيـژنم صـنم ، صـنم مـې پېژنـي

يار چې پهٔ خندا شي راتـه اوګـوري
پوهـه شـم د درد مـرهم مـې پېژنـي

O O

تــادي مــۀ کــوه د پــوهې نــه کــار اخلــه
پــۀ تـدبیر بانـدې دې ستونزې کمېـد ے شـي

کۀ ښائیسته نۀ ئې ښائیسته خویونه خپل کړه
دا کمـے پــۀ دې عمــل پــوره کېــد ے شــي

o o

تر اوسه څوک د آزادۍ پۀ خوږو پوهه نۀ شول
څلور نسلونه راله دې غاصب نظام اوخوړل

د شمار یو څو تنه د ملک پۀ وسائیلو قابض
د وطـن نـور خلـک ناقصـه انتظـام اوخـوړل

o o

تهٔ مې د خوږ ژوندون د کتاب پاڼه ئې
پهــه د تــريخ وخــت د پرهرونــو ئــې

تــا مــې د زړګــي دنيــا رنګينــه کــړه
تــهٔ مـــې پرپـــرکے د رنګونـــو ئـــې

*o o*

تــهٔ مــې د وطــن پــهٔ خزانــو بانــدې قــابض اوســه
نـور درنـه څهٔ نهٔ غـوارم خو ساندې مې سندرې کړه

امــن درنــه غوارمــه واکــداره پــهٔ نــړۍ کښــې بــس
خير دې ستا پهٔ خير شي خو دا سپي دې رانه کورې کړه

O O

تۀ مې يار نۀ شوې تول کلے مې دشمن شو
عجيبــه غونــدې عمــل راســره اوشــو

د تــول عمــر کړاؤنــه مــې ســين يــوړل
د شــېطان پــۀ شــانې چــل راســره اوشــو

O O

تېــر کــال رالــه څــۀ خوشــالي راکړلــه
څــۀ لــه پــۀ راتلــونکي پــورې زړۀ تــړم

ماتــه مــې زمــا د نصــيب پتــه ده
زۀ پــۀ خپــل نصــيب شــرطونه نــۀ تــړم

O O

تېــره چــې څــواني شــي بيرتــه نــهٔ راځــي
مخ چې زېړ ، پيپړ شي بيا بـه سور نهٔ شي

ځـــان پـــهٔ دې خبـــره بانـــدې پوهـــه کـــړه
وڅکـې بـه پـهٔ يـو صـورت انګـور نـهٔ شـي

O O

ټــولې خوشــالۍ جانانــه ســتا شــولې
ټــول غمونــه راکــړه زهٔ ئــې وړے شــمه

غــم دې کــرم بلــد د هــر ســتم ســره
اوس پــهٔ هــره ګرانــه لاره تلــے شــمه

O O

ټیټې سترګې ژوند ته ژوندون نۀ وایم
مړ دې شم یارانو کۀ بې پته شوم

خدایه مې دې سرکوزے ، دروغجن نۀ کړې
نۀ دې یم ژوندے چې ملامته شوم

O O

چاته د خپل زړۀ د درد قیصه اوکړم
هیڅ سره وخت د اورېدو نشته

ځانله ځانله هر سړے پۀ منډه دے
دلته څوک د سترګو خوږېدو نشته

O O

چاړۀ ستا د بڼو مې پۀ زړۀ خخه شو جانانه
آهونه ، ژړاګانې مې اوس برخه شوه جانانه

غمونو دې زما د زړګي کور تاله واله کړو
ګرېوان مې تار پۀ تار شو ، خواه دې يخه شوه جانانه

O O

چرته چې انصاف ، مینه ، يووالے وي
هلته پۀ يو بل د خلکو زړۀ سوزي

دلته کښې د ظلم تنور ګرم دے
ځکه خو د وچ سره لامدۀ سوزي

O O

چرتــه ورور د خــور د لاســه قتــل نــهٔ شــو
خو بس خويانديږ د غېرت پـهٔ نوم قتليـږي

پــهٔ جاهلــه ، پســمانده معاشــره کښــې
اُوبـهٔ ځـي ځـي پـهٔ کمـزوري ځـائې مـاتيږي

O O

چــې اولــس د لــوږو تنــدو ســره مــخ وي
څنګ به ښاد شي کهٔ حالت دې مختلف وي

اســلامي معاشــره کښــې پــهٔ روژه کښــې
پــهٔ هنــدو د مســلمان هــومره تکليــف وي

O O

www.pukhto.net

چې بل نۀ مني خپل ځان پۀ نورو مني
د ژوندون مزے د داسې خلکو لنډ وي

چې د نورو د زحمت وسیله ګرځي
خامخا بـه ئې پۀ سر د شګو پنډ وي

O O

چې بې وسه وي شریف وي ، د انصاف علمبردار وي
خو چې لاس ئې پۀ چا بر شي نو اوښان پۀ بډه یوسي

پاکه ربه دا مې سوال دے ، خر د ښکرو خاوند مۀ کړې
چې د زور اختیار خاوند شي سړیتوب تړې کډه یوسي

O O

چې پېدا نۀ وي د مرګ د غمه خلاص وي
د ژوندو عمر پۀ دار باندې تېرېږي

هيڅ پۀ خوند باندې ئې پوهه سړے نۀ شي
ژوند د مرګ پۀ انتظار باندې تېرېږي

O O

چې پۀ خپلو پښو کوشش د اودرېدو کړي
پۀ هغوې باندې به څنګه څوک څۀ ذباد کړي

هغه فرد وي او کۀ قوم وي خېراتي شي
چې ژوندون د نورو خلکو پۀ امداد کړي

O O

www.pukhto.net

چې پهٔ وینښه مې سالمه شپه سبا شي
شاعري کښې مې يوه صفحه سپوا شي

تاسو څهٔ خبر زيار څهٔ وي کړاؤ څهٔ وي
چې پهٔ وينو ډيوه بله کړم رڼا شي

o o

چې تر څو درپکښې توان وي حوصله وي
تر هغې پورې به چست ئې ، ګړندے ئې

چې د زړهٔ د زوره پريوتې نو مړ شوې
پهٔ لويدلو پاڅيدلو به ژوندے ئې

O O

چې ښکلي ئې نېتونه وي هم هغسې ئې ژوند وي
حـالات زمــونږ ، زمــونږ د عملونــو ترجمــان دي

د چـا نـه ګيلـه مـۀ کـوئ عمـل د لارې مـل وي
پـۀ مــونږ بانــدې زمــونږه عملونــه مشــران دي

O O

چې خاکي جانان ته اوګورم حېران شم
خدايه حورې به دې څومره خائيسته وي

O

www.pukhto.net

چې خوشاله پرسکون یمه یارانو
دا پهٔ ما باندې زما د رب احسان دے

زور او زر مې مدعا د ژوندون نهٔ ده
اطمینان مې نصیب کړے پاک سبحان دے

O O

چې خطا بل اوکړي او تهٔ غصه شې
دا دې خطا طرف ته ګام واغست

خطا د بل وه زړهٔ دې خپل خفه کړو
تا خو لهٔ ځانه انتقام واغست

O O

چې زما راتلـو تـه دومـره خوشـالېږې
ګرانـه زهٔ بـه د چـړو پـهٔ څوکـو درشـم

تهٔ چې ما پخلا کوې څومره مزه کړې
کلـه کلـه درنـه څکـه مـرور شـم

O O

چې خفـه ئـې څـهٔ سـبب بـه خامخـا وي
د سـبب حـل دې را اوباسـه چـې ښـهٔ شـې

چې دې وس وي انګريزي دوائـي مـهٔ خوره
پـهٔ بـې شـمېره مرضـونو بـه اختـه شـې

O O

چې د تـن غوښـې مـې اوخـوري پـهٔ قـلاره
مـا د فکـر نـه د ذکـر پـهٔ لـور بیـائي

د وطـن پـهٔ وسـائیلو مـې قـابض دي
پهٔ نېستۍ کښې مې د شکر پهٔ لـور بیـائي

O O

چې د چا پهٔ طمه نهٔ شې نو باچا ئې
دا ګیلې خفګان د طمې نه جوړېږي

د سبا غمونه مهٔ کړه رب رازق دے
بې سکونه ژوند د جمې نه جوړېږي

جمې نه - یعنې د دولت جمع کولو نه

O O

چې د مال يا د رُتبې سره بدل شي
بدل نۀ دے اصليت ئې راښکاره شي

څوک به څۀ وي او اوقات به د چا څۀ وي
څۀ هلۀ شي چې الله ئې پۀ پره شي

O O

چې د وخت د تقاضو سره بدليږي
هغه خلک د قامونو سره تلے شي

چې پۀ يو مقام ولاړ وي وړاندې نۀ ځي
داسې قام منزل ته کله رسيدے شي

O O

www.pukhto.net

چې دې نۀ وینم غمونه مې سېوا شي
چې دې اووینم زړګې مې پۀ هوا شي

ستا راتلو سره بدلیږي موسمونه
تۀ چې راشې پسرلي درسره راشي

o o

چې راحت ، سکون ، صحت لۀ ژونده اوځي
مرګ لۀ ژونده بیا پۀ سل چنده بهتر شي

چې دا درې واړه اجزاء د ژوند حصه وي
بیا خو هره شپه شوقدر ، ورځ اختر شي

o o

چې ژوند زحمت شي
نو مرګ نعمت شي

دنیا جنت شي
چې عیش عشرت شي

O O

چې محنت او مشقت ئې وظیفه ده
بس هغه د لوږو تندو سره مخ دي

چې تیاره خوري روښانه تندي ګرځي
څوک په سوري څوک غرمو ته مخامخ دي

O O

چې نظر ئې کم وي خړ خړ ورتـه ښـکاري
چې پـهٔ غـوړو درون وي لـړ لـړ اوربـدهٔ کـه

چې پهٔ چې پهٔ کل واړه اعضاؤ باندې روغ وي
بيـا هـم نـهٔ پـوهيږي دهٔ سـره بـه څـهٔ کـه

o o

چـې نېسـتي د سـړيتوب د حـده اوځــي
انسـان پـاتې نـهٔ شـي جـوړ ترېنـه لېـوهٔ شـي

چې دولـت چـا سـره زيـات شـي د يـو حـده
بنيـادم وي خـو خويونـه ئـې د خـرهٔ شـي

o o

ځملم چې اوده به شم خو خوب له کومې راوړمه
څه اوکړم فکرونو په جنجال ور اړولے یم

دې استحصالي نظام له هرې چارې ویستے یم
ژوند د بې وسۍ په ژوندانه باندې وژلے یم

O O

څو به د پښتون نسل کُشي کېږي
میاندې د بچو د خون حساب غواړي

نوره ئې د صبر کاسه ډکه شوه
اوس د رهبرانو نه جواب غواړي

O O

څو پورې چې ساه مې په ګوګل کښې وي
زۀ بــه د ورورۍ ، مينـــې تلقـــين کـــوم

بغـض ، عنـاد ، کرکـې نـه مـې کرکـه ده
بـــس پـــۀ محبـــت بانـــدې يقـــين کـــوم

O O

څـوک چـې ايمـان او عقيـده نـۀ لـري
د مـرګ نـه هغـه خلـک ويـره کـوي

د تور نظام خلاف سپين ښتي خلک
پـۀ سـپين ميـدان سـپينه خبـره کـوي

O O

ځوک چې د نېستۍ په جرنده دل اوسي
هغــــه د مســــتۍ د کــــوره لــــرې وي

مينــــه پــــه نهــــره خېټــــه نــــه کېــږي
دا خـــو د مـــړې ګېـــډې خبـــرې وي

O O

ځوک چې مړ شي د ژوندون د قبړه اوځي
د ژوندون پرې ځه احسان نه پاتې کېږي

چې احساس په بنيادم کښې پاتې نه شي
ساه بـه اخلي خـو انسـان نـه پـاتې کېږي

O O

څــوک د وطــن پــهٔ وســائيلو قــابض
څــوک د پــرديس مســافرو اوخــوړل

څوک پهٔ خپل کور د ژوند خوندونه اخلي
څـوک د اوښـانو پـهٔ شـا سـپو اوخـوړل

o o

څـومره بـه خفـه وي چې فـيس بـک نـهٔ وو
دا لويــه دنيــا بــه پــهٔ تــا تنګــه شــوه

سـم ئـې د فکرونـو نـه بـې غمـه کـړې
عـېش کـوه سـراجه غـوا دې لنګـه شـوه

o o

څومره چې ساده او آسان ژوند کوې
هومره به فکرونو نه بېغمه ئې

خپلې لاتجې سمې کړه په خپل سمې
هسې نۀ چې ناست د بل په طمعه ئې

o o

څۀ پرواه مې د دنیا پۀ خلکو نشته
سرخرو شومه چې ستا پۀ تور تورن شوم

څوک چې څۀ وائی نو وائی دې جانانه
بیا دې نۀ یمه کۀ تاته مختورن شوم

o o

څـۀ پـۀ بـې وفـا جانـان اغوښـتـې يـم
ځيـرې ګريـوان ګـرځـم د مجنـون پـۀ شـان

هـم بـې اعتبـاره دے هـم ښـکلے دے
يـار مـې هوبهـو دے د ژوندون پـۀ شـان

O O

ځـان د قـام او د ملـت پاسـداران بـولی
خـو حقونـه د قـام خـوري لکـه مـرداره

مـونږ ئـې اوګتـو د ښـې توښـې نـه اوځـو
مفت خـوارۀ ئـې رانـه اوخـوري پـۀ تيـاره

O O

ځنـــاور چاتــه څـه نــهٔ وائـــي چـــې مـــوږ وي
خـــو چـــې وړې شـــي نـــو هلـــهٔ خطرنـــاک شـــي

پـــهٔ انســـــان کښـــــې دا خبـــــره اپوتـــــه ده
دے چې موږ شي نو کلک سترګے شي سفاک شي

O O

ځنـــې ځنـــې خلـــک زړونـــو کښـــې اوســـيږي
ځنـــې خلـــک پـــهٔ ســـرونو کښـــې ميشـــته وي

د هـــر چـــا ځـــان لـــه جـــدا جـــدا مقـــام وي
د هـــر چـــا ســـره جـــدا جـــدا رشـــته وي

O O

حق ګټل غورځنګ ، مبارزه غواړي
حق ګټل پهٔ ملاسته باندې نهٔ کېږي

رسې به منزل ته چې روان اوسې
هر يو کار پهٔ ناسته باندې نهٔ کېږي

O O

حسن ئې څهٔ بل شانې لمبې کوي
دا خو د نمرود د اُور قيصې کوي

زهٔ ئې غرغره کړمه پهٔ يو نظر
ګوري راته ، خاندي ، تماشې کوي

O O

خاورې دې زما سترګو ته اونوستې
سترګې مې بینا شوې ستا پهٔ دې عمل

اے غلیمه سم مې پېژندلے ئې
چرته به او نهٔ کړم ستا پهٔ خلې عمل

O O

خپله برخه کار چې نهٔ کړي پهٔ سماج کښې
د سماج پهٔ اوږو دغه انسان سور دے

دا انسان نهٔ دے سپږې ده د اناجو
پهٔ تیاره پردے حق خوري حرام خور دے

O O

خبـر وؤم د خـزان پـهٔ بـاد بـه پـاڼې پـاڼې ريـژم
مــا ځکــه تريـنــه وړانــدې ارمانونــه ريــژول

د زړهٔ هر يو ارمان مې پهٔ سر سترګو پوره کړے
خوشاله مې ساتلے دے چې هر څهٔ ئې غوښتل

O O

خپلو سلګو نه مې سازونه جوړ کړل
لـهٔ پرهرونـو مــې ګلونـه جـوړ کـړل

چــې د حــالاتو پــهٔ مېچنــه دل شــوم
مـا د داغونـو نـه خالونـه جـوړ کـړل

O O

خدا ے دې ځوک د غریبۍ سره مخ نۀ کړی
پۀ خپل کلي پۀ خپل کور کښې مسافر شي

هـر سـړے ترېنـه پـۀ ډډه ډډه ګرځـي
خپـل پـردي ترېنـه د سېلمې مـرور شـي

*O O*

خدایـه مـونږ یـو بـل تـه داسـې شـریفان کـړې
لکه څنګ چې پۀ چېک پوستې کښې شریفان یو

دا خـــوبي د شـــرافت کـۀ راکـــې راغلـــه
بیـا بـه مـونږ د هـر آفتـه پـۀ امـان یـو

O O

خلک اوختل سپوږمۍ ته
مونږه ولوېدو کوهي ته

د زوال سبب مو دا دے
چې غلط وایو سهي ته

O O

خلک وائي چې بد ښهٔ دے د بدنام نه
خو زهٔ وایم چې د بد نه بدنام ښهٔ دے

بد کوي خو پهٔ ښکاره ئي اعتراف کړي
منافق نهٔ دے اګر کهٔ نېکنام نهٔ دے

O O

خلک وائي چې غم زوړ شي نو هېرېږي
زۀ ئې زوړ کړم خو غمونه دې زلمي دي

تۀ به ې غمه زۀ د غرونو لېونے شوم
ستا غمونه د برګکو لېوني دي

O O

خلک وائی سوات جنت دے نو بيا ولې
ددې خلکو پۀ مخونو خندا نشته

پۀ جنت کښې خو عيشونه ، خوشالئ وي
خو زمونږه پۀ نصيب کښې خو دا نشته

O O

خيـال ئـې زۀ سـاتم هـر نـاز نخـره ئـې مـنم
زمـا زړۀ د ے پـۀ سـينه کښـې مـې درزيـږي

چې زمـا د جانـان مينـځ کښـې فېصـله شـي
پـۀ مـا نـۀ خـو پـۀ هغـۀ بانـدې خـوږېږي

O O

دا پښـــــتو زمــــــونږه مــــــور ده
مــــور درَنــــه کــــړې چــــې درانــــۀ شــــئ

د غفلــــت لــــۀ خوبــــه پــــاڅئ
خبــــر د ے اوس خــــو پښــــتانۀ شــــئ

O O

دا چې څه راسره کېږي حل ئې څه دے
څو به وينې مو توېږي په کوڅو کښې

ملتپالو مشرانو نه مې سوال دے
څه دريز لرئ په باب د پښتنو کښې

o o

دا چې زمکه ډېره خوزي پکښې تېل دي
رابرسېره به شي خلک به ماړهٔ شي

هسې نهٔ ددې عمل په نتيجه کښې
د اجل غشي په مونږ باندې ساړهٔ شي

o o

دا ځنې مفت خوارۀ د نور اولس پۀ اوږو بار وي
تعمير کښې کردار نۀ لري خو اغوندي او خوري

چنار کۀ مېوه نۀ نيسي نو سېورے خو ئې شته دے
يوه خوبي کۀ نۀ لري نو بله خو لري

O O

دا د خدا ے زمکه ده مونږ کرونده ګر يو
کروندې له ئې راکړې پۀ قلنګ ده

مونږ به درومو دا به دلته پاتې کېږي
پاتې شوې د دارا او د اورنګ ده

O O

دا د رب مهربــانــي نــۀ ده نـــو څـــۀ دي
چــې پــۀ تېــر عمــر د خلکــو د زړۀ ســر شــوم

شـــاګردان مـــې د ټــول عمـــر اثاثـــه ده
چـــې بوډاشـــوم د لفظونـــو جادوګرشـــوم

O O

دا ســـماج د اوســـېدلو قابـــل نــۀ دے
کلــــه کلــــه مدهوشــــي اختيـــاره وه

کــۀ زمــا مــنے نــو دا بــه درلــه ښــه وي
چـــې غُصـــه شـــې خاموشـــي اختيـــاره وه

O O

داسې چل دے چې څۀ چل خو خامخا دے
يار پۀ چل چل کښې کاتۀ کوي او خاندي

دا چلونه بۀ څۀ چل راباندې اوکړي
پۀ چل ګوري پۀ چل تلۀ کوي او خاندي

O O

دا دنيا خو نۀ زما ده نۀ د بل ده
پردې کور کښې د يو بل سره پۀ جنګ يو

انسانان معاشرتي ځناوران دي
خو چې بيا ولې د يو او بله تنګ يو

O O

داســـې پیمانـــه د حســـن چرتـــه ده
څوک چې پرې د یار د ښائیست تول اوکړي

ستا لشـې لشـې ، ازغـي ازغـي بانـهٔ
بـاغ تـه لکـه څـوک ، د غنـو شپول اوکـړي

O O

دا غرونه کهٔ د سرو شي د سین کاڼي د یاقوتو
خـو بیـا بـه هـم حالـت د غریبـانو بـدل نـهٔ شـي

چې دا غاصـب نظـام وي د بـدلون طمـه عبـث ده
چې څنګه نولس ده ، نولس به وي خو شل به نهٔ شي

O O

www.pukhto.net

دا کېدے شي چې راپاڅې رب دې بچ کړي
کۀ د لوړو او دنګ کمره راګوزار شې

دوباره د اودرېدو امکان دې نشته
چې د خلکو د نظره راګوزار شې

o o

دا وطن به پۀ ژوندوني يو جنت شي
د سزا جزا عمل کۀ يقيني شي

خو کۀ دغسې بې سره چاپېريال وي
سل پۀ سله به دا خلک لېوني شي

o o

دا لاڅۀ د سپو ژوندون دے چې تېرېږي
دې نه ښه ده چې د مرګ پۀ خوب اودۀ شو

چې تر څو پورې پۀ غېرو ورپسې يو
پۀ دې طمه باندې مۀ شئ چې بـه ښۀ شو

*O O*

دا متل دے چې څوک خوار شي نو هوښيار شي
مونږه خوار شو لاد عقل نه اوزګار يو

د بحران نه د وتلو چل مو نۀ زده
د آسمان نه د امداد پۀ انتظار يو

O O

د بې وسو ژړاګانې به رنګ راوړي
هر ظالم به منطقي انجام ته رسي

کۀ د علم ، هنر پوهې خاوندان شوَل
پښتانۀ به د عروج مقام ته رسي

O O

د پښتون پۀ سر تراوسه پۀ اخلاص
ایښے نۀ دے چا د مینې ، وفا لاس

څوک ئې یو او څوک ئې بل طرف ته بیائي
مداریانو ترینه غصب کړو احساس

O O

د پـــرون يادونـــه ښـــۀ بلهـــا خـــوارۀ دي
نن هم ښۀ دے چې ځواني ده لېونتـوب دے

کـوم سـرکوزے بـه سـبا تـه خوشـاليږي
سبا مرګ دے ، سپينه ږيره ، بوډاتوب دے

O O

د ښـــاروي د جســـم وده پـــۀ ګيـــا ده
درنـــده د بـــل پـــۀ غوښـــو ، وينـــو پـــائي

د انســـان وجـود لـه هـم خـوراک پکـار دے
وېښ ضـــمير د روحـــاني ودې غـــذا وي

O O

يو شعر

د جنــت د دروازې نــه بــه واپــس شــم
کۀ مې هلته کښې بې خونده سړے اوليد

O

د ځينې ځينې خلکو پۀ کردار باندې شکې شم
چې ګورم ورته يو څۀ کوي ، بل څۀ بل څۀ وائی

د ځـان د پـاره يـو څۀ خوښـوي او مالـه بـل څـۀ
پخپلـه پـرې عمـل نۀ کـوي ، ماتـه چې فرمـائي

O O

د حـــق ګـټـــل د وړو لـــوبې نـــۀ دي تـــوقې نـــۀ دي
د وخـــت فرعـــون تـــه پـــۀ پســـته ژبـــه وېنـــا مـــۀ کـــوه

چې پۀ تيارو باندې مئين دي پۀ تيـارو کښې خوښ دي
ســـراجه هغـــو تـــه خبـــرې د رڼـــا مـــۀ کـــوه

o o

د خپلـــو اداګـــانو د زور پتـــه درتـــه نـــۀ وه
لۀ ورايه پۀ خندا شوې د زړۀ کور دې راله وران کړو

غمونه اند ېښنې مې د زړګي کور کښې ډېره شوې
د هر څۀ نه دې اووېستم ژوندون دې راته ګران کړو

o o

د دنيا د هر يو خوند نه مزې اخلي
خو زما د آخرت په غم غمجن دے

ماله يو څۀ خوښوي او ځان له بل څۀ
ناصح څومره مکر جن او فريب جن دے

o o

دروغ وايه خبر دے هيڅ خبره نۀ ده
د ريښتياؤ په وينا باندې قدغن دے

دلته هغه څوک د ښې ورځې ښتن دے
چې بې لارې ، بې عمله ، دروغجن دے

o o

دروغ نــهٔ راځـــي رېښـــتيا وئيلی نـــهٔ شـــم
دا بــه ښــه وي چــې پــهٔ چپــه خلــهٔ ژونــدون کــړم

د منــــزل هــــدېو څــــهٔ اتــــه پتــــه نشــــته
خــو روان يمــه پــهٔ ګرانــو لارو يــون کــړم

o o

د دوې پــهٔ ايوانــو کښــې سـيکنډ لــه بجلـي نــهٔ ځـي
بلونــه مــونږ نــه اخلـي او سـاتي مــو پـهٔ تيــارو کښــې

ځليرشتو ګهنټو کښې بجلي دويشت ګهنټې نهٔ وي
حاجت رښا تـه هـيڅ نهٔ وي د مـړو پـهٔ مقبـرو کښـې

o o

د رشــوت پــۀ بيمــارۍ چــې اموختــه شــي
هغــه بيــا د ســکه ورور نــه رشــوت اخلــي

خدا ے دې څوک پۀ دې مرداره عادت نۀ کړي
رشـوت خـور د خپلـې خـور نـه رشـوت اخلـي

O O

د رهبــر نظــر د قــام پــۀ ســباؤن وي
سياســي خلــک کرســۍ تــه خوشــالېږي

د اولــس پــۀ زړونــو هغــه مشــر راج کــړي
چې پۀ قـام د خپـل اولاد پـۀ شـان خوږېږي

O O

د زغملو پۀ قوت مشکل آسان شي
ګنې غم پۀ هېرولو نۀ هېرېږي

ابتدا کښې غم د غر پشانې درون وي
چې زړېږي حوصله ورته زياتېږي

O O

د زوره ورو غاصبانو لاس نيولے نۀ شو
غلي ناست ښۀ يو بس د ے څۀ مظاهرې به کوؤ

د خپل نفاق د لاسه ټول عالم ته اوشرمېدو
اوس به نسکور لاسونه اونيسو خېرې به کوؤ

O O

د ژوندون اوږد سفر آخر تمام شو
پـه لوېدلو پاڅېدلو تـر دې راغلـم

د مکرونـو فرېبونـو نـه بېـزاره
آخـر پرېـوتم بـې دمـه تـر خلـې راغلـم

O O

د سبا فکـر کـوه ، د نـن نـه خونـد اخلـه
آخـرت مـۀ هېـره وه ، مـزه د ژونـد اخلـه

پۀ پرون مۀ نازېږه ، افسوس پرې هم مۀ کوه
حال پۀ احتياط تېره وه، ماضۍ نه پند اخله

O O

د سر ساتنه به دې هله کوې
چې اول خپل دشمنان اوپېژنې

کۀ داسې نۀ وي بيا خو ګرانه ده نو
چې د لستوڼي ماران نۀ پېژنې

O O

د سېر ورو د اغستلو توان ئې نۀ وي
ځوک چې دوه منه بوجۍ پۀ اوږه وړے شي

چې دړې وزن ته هم پنځۀ دمې کړي
هغه خلک چې څۀ غواړي اغيستے شي

O O

د غلـيم د خـوايخۍ لـۀ وجـې خانـدم
ګنـې نـور خـو پـۀ زړګـي پرهـر پرهـر يـم

د زړګـي پـۀ حـال مـې هغـه څـوک خبـر دي
چـې د چـا د سـترګو تـور د زړګـي سـر يـم

o o

د قـام پـۀ ژبـه د خپـل قـام سـره خبـره کـوؤم
د قـام شـاعر يمـه د قـام دردونـه پېژنمـه

پـۀ بې وسۍ او بې حسۍ د پښتون اوښکې څڅوم
دده پـۀ مـخ د مايوسـۍ رنګونـه پېژنمـه

o o

دلته هغه خلک پراڼو کښې سورلي کړي
چې د فراډ کولو فن کښې ماهران وي

مونږ به خاورې ترقۍ طرف ته لاړ شو
چې مو داسې بې ضميره مشران وي

O O

د محنت او قيادت لۀ برکته
پۀ دنيا د انګرېزانو حکومت شو

شاجهان د تاج محل نه وزګار نۀ وو
بهارت ځکه د هندوانو مملکت شو

O O

د مغرب پېغله به څۀ کړم ، نۀ ئې ټيک نۀ مېخه کې وي
نۀ ئې خال پۀ غونډه زنه ، نۀ ئې لېچو کښې بنګړي وي

زار د هغې پښتنې شم ، چې هم مينه هم وفا وي
هم د پت پښتو مېرمن وي وفاداره ، با حيا وي

○ ○

د ملي ګټو شعور ورپکښې نشته
د ذاتي غرض پۀ فکر کښې اخته دي

پاکه ربه پښتنو له پوهه ورکړې
څۀ پۀ ګډو وډو چارو اموخته دي

○ ○

www.pukhto.net

دننه کۀ هر څو پۀ زړۀ سُورے ، پرهر پرهر يم
پـۀ مـخ او پـۀ تنـدي مـې خنـدا ګانې ګرځـوم

کۀ هر څومره د کرکو پۀ مېچنو باندې دل شوم
پـۀ سـترګو کښـې د مينـې رڼاګـانې ګرځـوم

O O

د نېسـتۍ هسـتۍ يـاران دې زنـده بـاد وي
د ښــکاره پټــې ملګــري دې آبــاد وي

چــې زمــا د ذکــر فکــر انــدېوال وۀ
هغــه ټــول تلــي يــاران دې اروابنــاد وي

O O

دومره به پهٔ سترګو کښې ازغے نهٔ وؤ
خېر دے کهٔ وے بد خو چې بدنام نهٔ وے

هيڅ خبره نهٔ وه کهٔ بې وسه وے
خدايه چې بې حِسه مې دا قام نهٔ وے

O O

دومره ډېره ده چې ژوند مې پرې تېرېږي
لېونے نهٔ يم چې مال پسې مجنون شم

د قارون د ژوند انجام راته معلوم دے
خدا ے دې نهٔ کړي چې ددې دور قارون شم

O O

د هجــران غمونــو ډېــر يمــه زېلــې
د پستو لېچو حصار کښې مې راګېر کړه

ډېرې ورځې پس مې ولیدې جانانه
دواړه لاسه مې د غاړې نه چاپېر کړه

o o

د هــر چــا ځــان لــه وړه وړه دنيــا ده
ټول مشغول دي خپله خپله دنياګۍ کښې

د تقــدير د چــارو پتــه چاتــه نشــته
د چرګوړي غوندې اوسې پۀ اګۍ کښې

o o

د يـــارانو دعاګـــانو تـــه محتـــاج يـــم
قســـمتونه پـــهٔ دعـــا بانـــدې بـــدلېږي

د بـــد بختـــه آزاري انجـــام آزار دے
هـــم بـــه دلتـــه هـــم بـــه هلتـــه آزاريـــږي

O O

دينـــي جذبـــه خـــو د ايمـــان برخـــه ده
زاهده ښـه شـوه ستا ايمـان تـه خېـر شـو

چـې ئـې مېـرۀ پـۀ خپلـه خوښـه غوښـتو
جينۍ سنګساره شوه اسلام تـه خېـر شـو

O O

دے متل "هر چا ته خپل وطن کشمير دے"
اســتوګن کــۀ د يــورپ کــۀ د دکــن دے

زۀ بــه څنګــه د مســتۍ خبــرې نــۀ کــړم
چې د سوات د سين پۀ غاړه مې مسکن دے

O O

ډاکټــر اوکړلــه پوښــتنه د مــريض نــه
راتــه اووايــه خــوراک دې زړۀ تــه کيــږي

مريض زر ورته جواب کښې داسې اووې
چې اينګولے ښۀ وي بيا خو مې خوښيږي

O O

www.pukhto.net

هائیکو

ډرګ ، لېنــډ مافیــا مــې اورېــدلي وؤ
اوس پکښــې د بلــې نــه خبــر شــومه
دلتــه کښــې ادب مافیــا هــم شــته دے

O O

ډېر پۀ هغه اُور کښې وسوزي ستي شي
چې کوم اُور ئې لګولے پۀ خپل لاس وي

هغــه خلــک بــې عزتــه شــي رســوا شــي
چې د بل پۀ غرقولو کښې ئې لاس وي

O O

www.pukhto.net

ډېر ښـهٔ راتـه رارسـي دا چې څـهٔ راتـه رارسي
د خپلــو عملونــو نتيجــه راتــه رارســي

متل دے " چې څهٔ کرې هغه رېبې به سبا لـه "
دا مـونږ چې څـهٔ کرلـي دي هغـه راتـه رارسـي

O O

ډېـر کـهٔ ګناه ګـار يمـه سـرکوزے يـم
شــوې رانــه ډېــرې خطاګـــانې دي

دا چـــې لاخوشـــاله مطمئـــين يمـــه
مـــا ســـره د خلکـــو دعاګـــانې دي

O O

ډېر مې داسې اولیدل د مچ نه کُچ اوباسي
بس خو پۀ خبره کښې خبره را اوباسي

خپل غرض ئې ړوند کړي سوچ او فکر ئې مفلوج شي
جرنده جمات نۀ ګوري خوګوډے ننباسي

○ ○

ډېر مې زړۀ ته اووې پۀ هیڅ حال درنه صبر ېږي نۀ
زۀ چې څوک د زړۀ پۀ تخته ولیکم هېریږي نۀ

ستا خبره بیله ده زما خبره بیله ده
تاته ګرانه نۀ ده خو زما نه داسې کېږي نۀ

○ ○

www.pukhto.net

راز هغه وي چې په زړۀ دننه پروت وي
چې د ژبې سر له راشي نو راز نۀ دے

چې ئې تۀ پخپله نۀ شې هضمولے
فاش کېدلو کښې قصور د همراز نۀ دے

O O

رب مې ژبه په آخره کښې ګويا کړه
څۀ نه څۀ مې د پښتو لمن له ورکړل

پښتو ژبې ! زۀ په دې خبره وياړ يم
څو ګلونه چې مې ستا چمن له ورکړل

O O

رسوا شو ستمګر خو د ستم نه قلار نۀ شو
بد نام شو ، نۀ پوهېږي ځان ته وائي چې هوښيار دے

دا زۀ چې سر ببر ، خيرې ګرځوان لېونے ګرځم
دا حال مې د جانان د ستمونو اشتهار دے

o o

رنګ مې زيړ زبېخلے دے ، ګورے چې دا ولې
خوب مې تختېدلے دے ، ګورے چې دا ولې

څۀ ورسره او نۀ شوَل ، څۀ ورسره نۀ کېږي
بيا هم پښتون غلے دے ، ګورے چې دا ولې

o o

روېـــــو اختـــــه د وهـــــم پـــــهٔ مـــــرض کـــــړم
نـهٔ پـوهېږم څـوک پـرده دے څـوک مـې خپـل دے

توقـــع نـــه زياتـــه مينـــه چـــې څـــوک راکـــړي
زهٔ شـکي شـم چـې پـهٔ دې کښـې خـو څـهٔ چـل دے

O O

روېـــــه د روئـــــې ردِ عمـــــل وي
" چـې څـهٔ کـري هغـه ريبـي " دا متـل دے

چې د کرکې پهٔ بدل کښې مينه غواړي
خپل علاج دې اوکړي روغ نهٔ دے پاګل دے

O O

زړۀ لـه چې مـې حق د انتخـاب ورکـړو
بـس پـۀ تـا مئـین شـو دا ئـې ښـۀ اوکړل

تـا ورلـه غمونـه اند ېښـنې ورکـړې
داسې خو څوک نۀ کړي دا دې څۀ اوکړل

O O

زړۀ مې غواړي چې پۀ کور کښې غلے کښېنم
د دنیـا د هـرې چـارې نـا خبـره

دا ناسـازې څـو څـو ځلـه سـړے وژنـې
زړۀ بـه نـۀ خورمـه پـۀ هـیڅ یـوه خبـره

O O

زما پهٔ حال مې جانان مهٔ خبروَئ
راتلے خو نهٔ شي فکرمند چې نهٔ شي

زهٔ ئې خفګان له ورکولے نهٔ شم
زما پهٔ غم باندې غمجن چې نهٔ شي

O O

زما پهٔ ذهن کښې خو ډېر خلک دي
خو پهٔ زړګي کښې مې بس تهٔ اوسېږې

ګورې چې ستا او زما څهٔ رشته ده
نهٔ زهٔ پوهېږم او نهٔ تهٔ پوهېږې

O O

www.pukhto.net

زۀ بـه څـۀ شـاعر وؤمـه کـۀ ګـران پـۀ پښـتنو نـۀ وې
دا د مينــه والــو ډاډ او مينــې شــاعر کــړے يــم

يـو خـواه د پښـتون پـۀ بـده ورځ بانـدې غمجـن يمـه
بـل خـواه خپلـې خـاورې ګلـورينې شـاعر کـړے يـم

O O

زۀ پـۀ خپلـه خوښـه هـيڅ کـولے نـۀ شـم
پـۀ پنجـره د رواجونـو کښـې بنـدي يـم

رارسيږي بـه چې څۀ مې پۀ نصيب وي
مجبـور کـړے ئې پۀ کرښـو د تنـدي يـم

O O

www.pukhto.net

زۀ چې څۀ غواړم دا زما پۀ ژوند ممکنه نۀ ده
دغه آرزو مې نن د خپل نصيب پۀ فال اوکته

وروستو کۀ هر څۀ اوشي زۀ به ئې هډو او نۀ وينم
اختر چې تېر شي نو نکريزې پۀ ديوال اوتپه

O O

زۀ د ورور نه مرَور يم ورور زما نه مرَور دے
زۀ هغۀ له دردِ سر يم هغه ماله دردِ سر دے

دا چې يو بل نه وېزار يو د يو بل پۀ تاوان خوښ يو
دا د دې نظام قصور دے دا د دې نظام اثر دے

O O

زۀ د هیچا د نېکئ پـهٔ طمعـه نـهٔ یـم
دغـه ډېـره ده چـې بـد راسـره نـهٔ کـړي

هغـه خلـک د عظمـت پـهٔ بـام ولاړ وي
بـې بدلـه چـې د هـر چـا سـره ښـهٔ کـړي

O O

زۀ د خپـل زړۀ حوصـلې تـه حېرانېـږم
چـې پـهٔ دومـر مصـائبو کښـې درزيـږي

کۀ هر څومره د حالاتو سترګې سرې دي
خنـداګانې مـې پـهٔ مـخ بانـدې ځليـږي

O O

زۀ د سود او زيان لۀ چارو بې نياز يم
لېونے يم چې پۀ کومه مخه لاړم

دا دنيا به وي او زۀ به پکښې نۀ يم
چې زما نۀ ده نو ولې پسې ژاړم

O O

زۀ هره خبره د خپل زړۀ منم
ځکه مې د ژوند نه مزې واغيستې

دواړو د يو بل سره وفا اوکړه
دواړو د هر خوند نه مزې واغستې

O O

زۀ دې ځان ګڼم خپل ځان راته ښکارېږي
څوک کم عقل به د ځانه لاس پۀ سر شي

تۀ مې تن ئې ، تۀ مې ساه ، تۀ مې دنيا ئې
ځان پـه څنګـه د خپـل ځانـه مـرور شـي

O O

زۀ د رب د رحـــــم طلبګـــــار يمـــــه
ويـــار دې پـــۀ خپـــل زُهــد زاهــدان كـــوي

رب چـــې مهربانـــه شـــي نـــو بيـــا څـــۀ دي
روح بـــه مـــې ســـېلونه د اســـمان كـــوي

O O

زۀ مينــه وېشــم خــو د بــل نــه مينــه هــم غوارمــه
چرتـه چې مينـه نـۀ وي هلتـه کښـې مـې زړۀ نـۀ لګـي

پۀ هغه ځائې کښې ناسته نۀ کوۀمـه سـاه مې اوځي
چې پـۀ چـا ښـۀ نـۀ لګـم يـا رابانـدې ښـۀ نـۀ لګـي

O O

زۀ هـــم خـــاوره تـــۀ هـــم خـــاوره
زمـــونږ دواړو يـــو اســـاس دے

زۀ محکـــــوم تـــــۀ زوره ور ئـــــې
ســـتا زمـــا ګرېـــوان کښـــې لاس دے

O O

ژوند پـهٔ آهونـو ، ژړاګـانو بانـدې مـهٔ تېـره وه
پـهٔ زړهٔ غمونـه ګرځـوه ، پـهٔ خلـهٔ خنـدا ګرځـوه

پهٔ وروستو مهٔ ګوره پهٔ وړاندې قدمونه اخلـه
د وخت فرعون له حوصله لکه موسیٰ ګرځوه

O O

ژونـدون زمـونږه څـهٔ دے یـوه تکـه تـوره شـپه ده
طوفـان دے ، زول ، سـیلۍ ده د غمونـو سلسـله ده

د ژونـد پـهٔ سـوراړا کښـې پـهٔ غرمـو بانـدې ولاړ یـو
د خپلـو ارمـانونو جنـازه مـو پـهٔ اوږه ده

O O

ژوند مو خاورې ايرې تېر شو بيا به هم خاورو له درومو
خو نۀ سم شو نۀ سمېږو نۀ امکان شته چې به سم شو

د عمل رد عمل دے چې حالت مو نۀ بدلېږي
د يو غم لاوزګار نۀ يو چې اخته پۀ نوي غم شو

O O

ستاپۀ سترګو کښې خپل ځان راته ښکارېږي
خپلې سترګې چې ستا سترګو ته نيزدې کړم

چې تۀ نۀ ئې نو قسم مې دې پۀ خدا ے وي
نۀ به خال کېږدم او نۀ به شونډې سرې کړم

*O O*

ستا پـه زړۀ کښې اوسېدل پـه کرايـه دي
څـوک پېسو والـه جانـان پکښې دېـره کـه

زۀ خـو څـان لـه د معـاش پـۀ ژرنـده دل يـم
پـۀ مـا څـۀ کـوې څـوک څـان پکښې دېـره کـه

O O

ستا د مينې راز زړۀ کښې خوندي ساتم
زغـم کـوؤم چې مينـه مـو رسـوا نـۀ شـي

اے جانانـه خـوب کښې خـو بې وسـه يـم
خـدا ے دې خبـر کـړي نـوم دې پـۀ خلـۀ را نـۀ شـي

O O

ستا د نازونو اداګانو لوږې
ستا د نرۍ نرۍ خندا به اوشم

د ژوند نه څکه مزې اخلمه چې
زۀ څۀ شوتل نۀ یم چې بیا به اوشم

O O

ستاسو کور کښې امن دے مزې کوئ
دلته مو د وسپنو باران اوکړو

تاسو پۀ امرودو کښې پیسې ګټئ
مونږ پۀ زمرودو کښې تاوان اوکړو

O O

ستر ګې مې په هغه چا خوَږيږي چې همخيال مې وي
زړۀ مې د هغوې سره درَزيږي چې همخيال مې وي

خدائيګو چې د وينې د رشتې نه راته خوږ لګي
ناسته مې هغوې سره خوَښيږي چې همخيال مې وي

O O

سکون او اطمينان راته د هر څۀ نه خوارۀ دي
نۀ زور غوارم نۀ زر او نۀ بنګلو ته مې زړۀ کيږي

پۀ مينه باندې پايمه د مينې طلبګار يم
دولت مې دومره خوښ دے چې ژوندون مې پرې تيريږي

O O

شـپېتۀ کالــه ژونـدون خــو څــۀ وړه تجربــه نــۀ ده
د هــر ســړي د مينــې پرســنتېج راتــه معلــوم دے

د ژونـد تــودو ســړو دي راتــه هــر څــۀ ايــزده کــړي
پـۀ دغـه کتابچـه کښـې هـر يـو پـېج راتـه معلـوم دے

O O

شــرافت چــې چــا کښــې زيــات شــي د يــو حــده
ورتـــه جـــوړ لـــۀ ګيـــدړانو ازمـــري شـــي

بــد معاشــي تــه ښــۀ عمــل وئــيلے نــۀ شــم
کلـــه کلـــه ضـــرورت شـــي مجبـــوري شـــي

O O

شیخ د لاسو نه تسبې پهٔ جیب کښې کېښوې
چې د ښکلي د رخسار پهٔ تماشه شو

د جنت د حورو خیال ئې زړه نه اویست
د ګلرنګې پهٔ یوه ادا نشه شو

O O

شلو کښې چې ښکلے نهٔ شي ، د پرشو ته چې چاق نهٔ شي
هیڅ طمعه دې نهٔ کړي چې څلوېښتو ته هوښیار نهٔ شي

هر یو کار پهٔ خپل وخت باندې کېږي وروستو نهٔ کېږي
بیا به څهٔ مالدار شي چې پنځوستو ته مالدار نهٔ شي

O O

ښــه خوشــحاله زنــدګي کړمــه ملګــرو
چې پۀ کور کښې چيني ، وړۀ ، غـوړي او پی وي

پــۀ بــازار کښـــې د باچــا پشــانې ګــرځم
چې پـۀ جېـب کښـې مـې پنځـۀ سـوه روپـی وي

O O

عــالم ئــې ځکــه تماشــو لــه راځــي
زما د سوات ناوې سنګار کړے دے

د وطــن نــاوې د وادۀ جــوړه کښـــې
سوات تـه راتلـو تـه انتظـار کړے دے

O O

عـېش پرسـت او خــود پســند چــې مشــران شــي
د هغـــــه هېـــــواد وګــــړي يتيمـــــان شــــي

چــې کــوم قــام تــه مخلــص مشــر الله ورکــړي
رعايـــا ئـــې لکـــه ســـتوري د اســـمان شـــي

O O

غـم کښـې څـوک د چـا سـره اودريـږي نـۀ
سترګې هم لېمو کښـې اوښـکې نـۀ پريـدي

اے ګلـه لتـا نـه خـو ازغـے ښـۀ دے
مـا د خپلـې خـواه نـه مخکښـې نـۀ پرېـدي

O O

غلامي پـۀ هـر صـورت کښـې غلامـي وي
رب دې نۀ کړي څوک د غېرو غلامان شـي

خــو بــدتره پکښـــې هغـــه غلامـــي وي
چــې کــوم قــام د غلامــانو غلامــان شـــي

O O

قصد کۀ مې جانـان د نۀ راتلـو کـړے
مـرګ خـو چرتـه تلے نـۀ دے رابـه شـي

مړ چې شم لۀ هـره غمـه خـلاص بـه شـم
غــم د دنيــا پــاتې پــۀ دنيـا بــه شـي

O O

کال بدل شو خو نصيب مې بدل نۀ شو
پۀ تقدير کښې مې ليکلې تنهائي ده

موسمونه خو بدليږي ژمے راغے
لاملګرې مې برستن او تولائي ده

**O O**

کر د ګلو نۀ کيږي ، للمه کښې پۀ شګه کې
سرَه او اُوبۀ غواړي ، زمکه جوړَول غواړي

هلته نېکي مۀ کوه ، چرته کښې چې سين نۀ وي
ځکه چې نېکي خو بيا ، سين ته غورزَول غواړي

O O

کوم عمل کښې چې راحت او سکون مومې
سمدستي هغه عمل اختیاروه

چې ضمیر پرې ملامته درته وائي
هغه کار ته ذهن مهٔ تیاروه

O O

کومه پېښه چې سبب د مرګي نهٔ شي
دغه پېښه يو عبرت شي ، تجربه شي

د دنیا د مصائبو مهٔ ویرېږه
زر چې ویلي شي پهٔ اُور هلهٔ پاسه شي

O O

کومې اوښکې چې لـۀ سترګو تـوئې نۀ شي
پــۀ وجــود دننــه هــر څــۀ ريزمريــز کــړي

د هغـــوې د انتقامـــه ويـــره اوکـــړه
د بـدل د اغيســتو نـه چــې پرهيــز کـړي

O O

کـۀ سـکون غـواړے سـاده ژونـدون اختيـار کـړه
خواهشــونه دې محــدود کــړه چــې دمــه شــې

تــۀ بــه درومــې دا هــر څــۀ بــه پــاتې کيــږي
اســتوګن کــۀ پــۀ بنګلــه کــۀ پــۀ خيمــه شــې

O O

کــۀ هــر ځــومره رانــه لــرې ئــې جانانــه
پــۀ خيــالونو پــۀ فکرونــو مــې راخــور ئــې

فاصــلې دې رانــه نــۀ شــي بېلــولې
ميشته کړے مې د خپل زړګي پۀ کور ئې

**O O**

کۀ هر ځومره ځوک د سرو سپينو خاوند شي
خو انجام ئې تور ډوغل ته کوزېدل دي

قارون څۀ شو هغه شان شوکت ئې څۀ شو
پــۀ مُــرداره دنيــا هســې غولېــدل دي

O O

کـــهٔ هـــر ځـــومره مـــې ملګـــري هوښـــيار بـــولي
خـــو د خپلـــو ســـترو حـــل مـــې ايـــزده نـــهٔ کـــړو

کـــهٔ پـــهٔ ډېـــرو هنرونـــو کښـــې اســـتاذ شـــوم
د دولـــت ګټلـــو چـــل مـــې ايـــزده نـــهٔ کـــړو

O O

کـــــهٔ پالنـــــه د اولاد کـــــهٔ تربيـــــت د ے
حکومـــت چـــې نـــهٔ وي فـــرض د مـــور پـــلار وي

خـــــو چـــــې چرتـــــه د قـــــانون حکمرانـــــي وي
بيـــــا ســـــرکار ددې کـــــارونو ذمـــــه وار وي

O O

کېدے شي د نن دوست دې د سبا ښکاره دشمن شي
د وخـــت د بدلېـــدو ســـره بـــدلېږي تقاضـــې

دا دور لباســـي دے د چـــا مـــۀ پـــۀ طمـــه کېـــږه
يـــواځې بـــه د ژونـــد پـــۀ کرانـــو لارو بانـــدې ځـــې

O O

ګټـــه د دشـــمن تلـــه کښـــې اچـــوي
مـــا بانـــدې لحـــاظ کـــړي چـــې دې يـــار يمـــه

تنـــدر دې پـــۀ داســـې يـــارۍ پرېـــوځي
زۀ د داســـې خلکـــو نـــه وېـــزار يمـــه

O O

ګرانه یاره څنګه به مې یاد نهٔ ئې
څومره احسانونه دې راپورې دي

تهٔ د نورو خلکو غوندې چرته ئې
اوکنهٔ ! دا ستا خبرې نورې دي

O O

لکه د نګه ونه بره بره مهٔ ځه
چې نهٔ سیورے چاله ورکړے نهٔ مېوه

پرواه مهٔ کړه کهٔ پهٔ سر دې اُور بلیږي
رڼاګانې خوروه لکه ډیوه

O O

لیاقـت خـو پـس د مرګـه ثـابتیږي
چـالاکي د ژوندانـهٔ پـورې موقـوف وي

پـهٔ دروغـو عـزت کلـه حاصـیلیږي
څوک چې داسې کؤل غـواړي بې وقوف وي

O O

ماتـه بـې لـهٔ مینـې څـهٔ ایـزده نـهٔ دي
تالـه د الفـت چلونـه نـهٔ درځـي

مـړ مـې کـړه اشـنا چې خـواه دې یخـه شـي
هسـې هـم د خیـر کارونـه نـهٔ درځـي

O O

ماتــه پتــه ده یــۀ ویښــه راتلـے نــۀ شــې
کــۀ راځـــې نـــو د راتلـــو لارې بلهـــا دي

پۀ خیالونو کښې مې راشه خوب کښې راشه
د ارمـــــان د ربړیــــدو لارې بلهــــــا دي

O O

ماتــه وائــي چــې بــدل بــه دې تقــدیر کــړم
کۀ دې ووټ زما پۀ حق کښې استعمال شي

چې زما پۀ ووټ د واک اختیار خاوند شي
توجــه ئــې پــۀ خپــل اهــل و عیــال شــي

O O

مال چې واخلي قام په غېرو باندې خرڅ کړي
په خلۀ ګونګ شي چې خرڅ کړے ئې اولس وي

پۀ هر ظلم باندې غلے لکه بت وي
دا متل دے چې " د غلۀ پۀ ږيره خس وي "

O O

مال کۀ لاړ شي خبر دے هيڅ خبره نۀ ده
کۀ بيمار شوې څۀ نه څۀ تاوان دې اوشو

د کردار نه کۀ محروم شوې دا مې واوره
انسان پاتې نۀ شوې ښۀ تاوان دې اوشو

O O

ما وئيل اويا زره خرچه پرې اوشوه
اوس سل روپۍ مې د کتاب کېږي

وئيل ئې په بيه خو ئې نۀ اخلمه
په سل روپۍ خو پاؤ کباب کېږي

O O

مرګ يو حقيقت دے خو چې تريخ دے زمونږ بدې شي
ژوند يوه دوکه ده چې خوږه ده زمونږ خوښه ده

مونږ به د دوکې نه حقيقت طرف ته کوچ کوؤ
خاندو او کۀ ژاړو خو بس دغه زمونږ برخه ده

O O

مـړ مــې کــړه خپــل خــون بــه درتــه اوبخښــم
شــرط بــه پکښــې دا وي کــۀ دې پــړ کړمــه

خيــال مــې وۀ چــې مــرګ پــورې بــه او رســم
تــا خــو پــۀ ژونــدوني بانــدې مــړ کړمــه

O O

مقصــد ،مرام ئــې صــرف د دولــت جمــع کــوۀل وي
کــوپړۍ ئــې نــوره ټولــه د دمــاغو نــه خــالي وي

د خلکــو رهبــران د عقــل پــوهې خاونــدان وي
زمونږه چې څوک مشر شي ډګريانې ئې جعلي وي

O O

ملامتـــه ورتـــه خپلـــه وريـــا ديږي
سترګې خکته کړي کتلے راتـه نۀ شي

د دروغـــو بهانـــه جـــوړول غـــواړي
خـو جـوړيږي نـۀ وئـيلے راتـه نـۀ شـي

O O

ملګـرو څـۀ اختـر د ے ځـان پـۀ زورخوشـاله ول دي
د اُور پـۀ سـرو لمبـو کښـې د اختـر خوندونـه نـۀ وي

کوم خلک چې لمبه لمبه حالاتو کښې ژوندون کړي
پـۀ مـړاؤ اننګـو ئـې د مســتۍ رنګونـه نـۀ وي

O O

مونځ روژه کښې د هر چا نه مقدم دے
خو کردار په مسلمان کښې کالعدم دے

خپل ئې بدي شي په غېرو پسې زغلي
پښتون مست قلندر دمادم دم دے

O O

مونږ د مرګ لۀ ويرې ژوند پۀ ډېر احتياط کړو
حقيقت کښې ژوندون ګران دے ، مرګ آسان دے

مرګ د ژوند د هره قېده خلاصېدل دي
خو ژوندون خو پۀ ارمان پسې ارمان دے

O O

موږه مړۀ يو زموږ کلي مقبرې دي
هسې نوم رابانـدې پورې د ژوندو دے

پۀ هر ظلم باندې غلي لکه بت يو
حکومت رابانـدې ځکه د ړندو دے

o o

موږ سره چې څۀ کيږي نو ښۀ کيږي
هر يو عمل خپل ردِ عمل لري

نۀ شي زېر کولې هغه خلک څوک
کوم څوک چې رهبر د لارې مل لري

o o

مينــه شــته خــو بــې غرضــه مينــه نشــته
د هر شي نرخ د خپل وخت سره بدليږي

پخــواني خلــک ناپوهــه ، ســادګان وؤ
اوس خــو ګــوره زيــاتوه شــربت خــوَږيږي

O O

مينه ناک شه کۀ دې مينې ته حاجت وي
بــې لــۀ مينــې ، مينــه نــۀ ترلاســه کيــږي

څــوک د چــا نــه ګــوره نــۀ غــواړي ملګــرو
پــۀ خـــوږه پســـته وينـــا دلاســـه کيـــږي

O O

نصيحت پرېږده د ځان اصلاح دې اوکړه
چې ته سم شې يو ناسم به پکښې کم شي

هر يو تن چې د خپل کور مخه جارو کړي
دې کښې شک نشته چې پاک به ټول عالم شي

O O

نور څۀ نشته خو بس يو د خېتې غم دے
څوک خوشاله څوک دي زړۀ باندې داغلې

څوک هلۀ اوخوري چې ستړے شي پۀ منډو
څوک چې اوخوري هضمولو له ئې زغلي

O O

نـور د غونـډې زنـې تـورو زلفـو قيصـې پرېـږده
کومـه چـې راپېښـه ده ددې څـۀ حـل را اوباسـه

اے د قـام شـاعره د جانـان حسـن بيـا اوسـتايه
مخکښې د پښتون د بې وسۍ څۀ حل را اوباسه

O O

نـور قامونـه بـره پـۀ هـوا کښـې الوتـۀ کـوي
خکته سمندر کښې ئې بحري بېړۍ روانه ده

مونږه لاد حسد ، بغض ، کرکې نه وزګار نۀ يو
هغسې دنيـا مـو د غـوائي پـۀ ښـکر ودانـه ده

O O

نور قامونه تول د شنې لختې پهٔ څېر دي
چې پهٔ کوم طرف ئې اړوې کږېږي

د پښتون مثال د هغه وچ لرګي دے
پهٔ اُور سوزي خو قسم دے کهٔ بدلیږي

O O

نور مې د ظلم د زغملو قوت پاتې نهٔ دے
ظالم وختونه ګورے بل څهٔ امتحان غواړي

څهٔ پهٔ ناترسه ستمګر جانان اغوښتے یمه
زهٔ ترېنه پوزه پرېکوم هغه پېزوان غواړي

O O

نـــهٔ پښـــتو لـــيکلې شـــو او نـــهٔ پښـــتو لوســـتلې شـــو
وئـيلې بـه مـو هـم نـهٔ شـوه کـهٔ ژبـه مـو د مـور نـهٔ وے

دا بــه پــهٔ شخصـي توګـه مــونږ هـم عملـي کـړے وے
دومـره ګرانـه نـهٔ وه کـهٔ خپـل زړونـه مـو تـرې تـور نـهٔ وے

O O

وخـــت ســـره بـــدلېږي تقاضـــې د وخـــت
نـــن پـــهٔ منبـــر نـــوے بيـــان شـــوے دے

مخکښـــې امريکـــه زمـــونږه خپلـــه وه
اوس د خېـــره روس مســـلمان شـــوے دے

O O

ويـره د تيـارو نـه چرتـه او نـهٔ کـړې
سـتوري بـې تيـارې نـه رڼـا نـهٔ کـوي

هــر څــومره کــهٔ تېــزې هواګــانې وي
بــاز پکښــې پــهٔ بــره بــره تلــهٔ کــوي

O O

ورونړو پـهٔ ايمـان ئـې درتـه وايمـه
هـر څـهٔ چې کـوى پـهٔ صـداقت کـوى

مــل بــه مــو الله وي تجربــه اوکــړى
ژونــد بــه د حيــا او د عــزت کــوى

O O

هر څوک به په مرګ باندې فناه شي دې کښې شک نشته
هغه به ژوندي وي چې په زړونو کښې ژوندي اوسي

ژوند ئې ابدي شي په پېړو پېړو هېرېږي نه
ځني ځني خلک په ذهنونو کښې خوندي اوسي

O O

هر څوک د ژوند خوندونه واخلمه
بيا هم د مرګي په خوب اوده به شم

ژوند ددې دنيا د خوب ليدل دي بس
زه لا په دې طمه يم چې ښه به شم

O O

هر څوک غواړي چې مالدار شي برکتي شي
چې مالدار شي سل عيبونه ئې فناه شي

غريبي د هر يو جرم سرچشمه ده
چې غريب شي هر يو عيب پکښې پيدا شي

O O

هر کار څوک فائدې د د پاره نهٔ کوي
څنې څنې ځائې کښې تاوان هم بنهٔ وي

مهٔ اوره د زړهٔ هره خبره دې
کله کله جبر پهٔ ځان هم بنهٔ وي

O O

هغــــه خلـــک د فکرونـــو نـــه آزاد وي
چــې پــۀ ځــان او پــۀ خپـل رب ئــې اعتمــاد وي

هـــم بـــه دلتـــه هـــم بـــه هلتـــه شـــرمنده وي
چـــې پېشـــه ئـــې مـــرده بـــاد او زنـــده بـــاد وي

O O

هغه څۀ چې يـاد سـاتل ئې ضروري وي
د پښـتون نـه پـۀ دويمـه ورځ هېريـږي

هېـرَول چــې غــواړي کومــه يــو خبـره
عمـر تېـر شـي خـو هغـه ورتـه يـاد ېږي

O O

هغــه خلکــو ســره دوه قدمــه مــهٔ ځــه
چــې دلیــل او نــهٔ ثالــث نــهٔ قــانون منــي

کهٔ تـهٔ هر څـومره رسی. کړې ورتـه سستـه
خــو خپلیــږي نــهٔ کــوهے بــه درتــه کنــي

O O

هغـــه رعـــب ، دبدبـــه ئـــې پـــاتې نـــهٔ ده
پهٔ خپل کور کښې ، پردي جنګ کښې تاواني شو

پښـــتون اوس د چـــا جـــواب کـــولے نـــهٔ شـــي
ازمـــرے پـــهٔ چړیـــاګهر کښـــې پېزوانـــي شـــو

O O

هيڅ ئې پوهه په ځان نۀ کړم
د ادا پـــۀ زور ئـــې واغيســـت

ځـــۀ ناترســـه محبوبـــه وه
اُور له راغله کور ئې واغيست

O O

هېر مې نۀ ئې ياد مې ئې خو ځۀ اوکړم
زۀ پـۀ خپلـو سـترو کښــې انښـتـے يـم

خپلې بې وسۍ درتـه سرکوزے کړم
مـړه ! پـۀ چقــړو کښــې انښــتـے يــم

O O

هېـرې بـه دې تـولې نـاکردې کړمـه
نـور کـۀ د سـتم نـه لاس پـۀ سر شـولې

تـولې خطاګـانې بـه دې اوبخښـم
یـاره کـۀ وفـا کښـې سر پـۀ سر شـولې

O O

یـا بـه ځـې پـۀ تینـدکونو ، د کمـرو نـه بـه لـوېږي
چـې هښـیارو سـر اوسـي ، وي زمـا غونـدې کـم عقـل

یا به مکر فرېب زده کړي ، چې هغوې غوندې فنکار شي
یـا بـه تخښـتي لـۀ سـماجه ، یـا بـه کـړي د نـورو نقـل

O O

يــا بــه مــال ګټــې او يــا د خلکــو زړوونــه
چې يو څيز ګټې په بل کښې به تاوان خورې

شهادت به څنګ حاصل کړې چې مړ نۀ شې
شـپيلي نـۀ وهلـے کيـږي چـې سـتوان خـورې

O O

يـار مـې لاړ شـو پـۀ روژه کښـې سـه روزې لـه
ښــۀ ئــې اوکــړۀ چــې د تلــو ورتــه ســمے وو

چې واپس شي سم سړے به تر ښه جوړ شي
پــۀ ايمــان او پــۀ يقــين کښــې ئــې کمے وو

O O